(پښتو)

# بیمار عابد

شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

محمّد الیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

# بِيمار عابِد

دا رِساله "بيمارعابِد" شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت عَلّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمَّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په اردو ژبه کښې ليکلي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجَمه کښې څه غَلطي يا کمي، زياتې اوومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش: مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران
پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان
**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262
**Email:** translation@dawateislami.net

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# بيمار عابِد

شيطان كه هرڅومره ناراستی دروَلي خو دا رساله مكمله اولولئ اِنۡ شَآءَ اللهعَزَّوَجَلَّ د بيمارئ برداشت كولو جذبه به مو زياته شي.

## دَ درودشريف فضيلت

د سركارِ مَدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دي: "اے خلقو! بيشكه د قِيامَت په ورځ به د هغې د يَرې او د حساب كتاب نه زر خلاصې موندونكې هغه كس وي چا چه په تاسو كښې په ما باندې په دُنيا كښې په كثرت سره درود شريف لوستلي وي." (الفِردَوس بماثورِ الخطاب ج ص حديث)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## بيمار عابِد

**حضرتِ** سَيِّدُنا وَهب بن مُنَبِّه رَحۡمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه نه منقول دي: **دوو عابدانو** يعني عبادت گُزارو د پنځوسو كالو پورې د **الله** عَزَّوَجَلَّ عبادت كولو، د پنځوسم كال په آخِره كښې په هغوئي كښې يو **عابِد** سخت بيمار شو، هغه د **الله** عَزَّوَجَلَّ په باركاه كښې په ډيره عاجزئ داسې عرض اوكړو: "اے زما پاك پروردګاره عَزَّوَجَلَّ! ما دومره كلونه مسلسل ستا حكم اومنلو، ستا عبادت مې اوكړو بيا هم زه په بيمارئ كښې اخته كړې شوم، په دې كښې څه حِكمَت دې؟ زما مولٰى عَزَّوَجَلَّ! زه خو په ازميښت كښې اچولې شوې

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

يم.“ الله عَزَّوَجَلَّ فرښتو ته حكم اوكړو: هغوئي ته اووائې: ”تا زما په امداد او اِحسان او دركړې شوي توفيق زما د عبادت سعادت موندلې وو، پاتې شوه بيماري! نو مونږه تا ته د اَبرار مَرتَبه دركولو د پاره ته بيمار كړې ئې. ستا نه مخكښ خلق خو به د بيمارو او مُصيبتونو خواهش لرلو او مونږه تا ته د غوښتلو نه بغير عطا كړه.“ (عُيُونُ الحكايات حصّه ٢ ص ٣١٢ بِتَصَرُّف)

## بيماري ډير غټ نِعمَت دې

صَدرُ الشَّرِيعه، بَدرُ الطَّرِيقه حضرت عَلّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: بيماري هم يو ډير غټ نِعمَت دې، د دې فائِدې بې شميره دي، اګرچه انسان ته په ظاهره د دې په وجه تكليف رسي خو په حقيقت كښ ورته د راحت و آرام يوه ډيره لويه ذخيره په لاس ورځي. دا ظاهري بيماري چه انسان ئې بيماري ګڼړي، په حقيقت كښ د روحاني بيمارو يو ډير زبردست علاج دې. حقيقي بيمارئ روحاني مرضونه (مثلاً د دُنيا مُحَبَّت، د دولت حِرص، بُخل، د زړه سختي وغيره) دي چه دا ضرور ډيره د يرې خبره ده او هم دا هلاك كوونكې بيمارئ ګڼړل پكار دي.

(بهارِ شريعت ج ١ ص ٧٩٩)

یہ ترا جسم جو بیمار ہے تشویش نہ کر
یہ مرض تیرے گناہوں کو مٹاتا ہے
اصل برباد کن امراض گناہوں کے ہیں
بھائی کیوں اس کو فراموش کیا جاتا ہے

(وسائلِ بخشش (مُرمَّم) 432)

د شعر ترجمه: (١) دا ستا وجود چه بيمار دې نو خفه كيږه مه، دا مرض ستا ګناهونه ختموي (٢) اصل برباد كوونكې د ګناهونو مرضونه دي، وروره! هغه ولې هيرَوې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودپاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِی)

# په بیماري کښې د مومِن او مُنافِق فرق

رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بیمارو ذِکر کولو، اوئي فرمائیل: **مومِن** چه کله بیمار شي او بیا جوړ شي، د هغه بیماري د تیرو شوو **ګناهونو کفّاره** شي او د آیِنده د پاره نصیحت [شي] او **مُنافِق** چه کله بیمار شي او بیا جوړ شي، د هغه مثال د اوښ دي چه مالِك هغه اوتړلو بیا ئې خلاص کړو، نو نه هغه ته دا معلومه شوه چه ولې ئې تړلې وو، او نه ورته دا [معلومه شوه] چه ولې ئې خلاص کړو! (ابوداؤد ج۳ ص ۲۴۵ حدیث ۳۰۸۹ مُلَخَّصاً)

**د حدیثِ پاك شرح:** **مُفَسّرِ شَهیر حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتی احمد یار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حدیثِ پاك لاندې په ”مِرآت“ جلد 2 صفحه 424 کښې فرمائي: ولې چه **مومن** په بیمارئ کښې د خپلو ګناهونو نه توبه کوي، هغه دا ګنړي چه دا بیماري زما د یو ګناه په وجه راغلې ده او کیدې شي چه دا مې آخِري **بیماري** وي او د دې نه پس مې مرګ هم راشي، ځکه هغه ته د شِفا سره بخښنه هم نصیب کیږي. (خو) **منافِق** غافِل دا ګنړي چه زه په فلانئ وجه بیمار شوې ووم (مثلاً فُلانکې څیز مې خوړلې وو، د مَوسَم د بدلیدو په سَبَب بیمار شوې ووم، نن صبا د دې بیمارئ هوا را الوَتې ده وغیره) او د فُلانئ دوائې سره زه جوړ شوم (وغیره وغیره) سببونو کښې داسې نښتې وي چه مُسَبِّبُ الۡاَسۡبَاب (یعنې سَبَب پیدا کوونکې رَبّ عَزَّوَجَلَّ) طرف ته ئې نظر [یعنې غوروفِکر] هم نه ځي، نه توبه کوي او نه په خپلو ګناهونو غور کوي. (مراٰۃالمَناجیح)

مرض اسی نے دیا ہے دوا وہی دے گا کرم سے چاہے گا جب بھی شفا وہی دے گا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

د شعر ترجمه: مرض هم هغه راوستې دې دوا به هم هغه راکوي، په خپل کَرَم چه کله اوغواړې بيا به هم شِفا هغه راکوي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## چه زخمي شوه نو مُسکئ شوه (حکايت)

د **حضرتِ** سَيِّدُنا فتح مَوصِلي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ کور والا [یعني د هغوئي بي بي] يو ځل په زوره را اوغوزيده او نوك مبارك ئې مات شو، خو د درد نه د "وئ وئ" کولو په ځائ په خندا شوه!! چا ترې تپوس اوکړو: آيا زخم دِ درد نه کوي؟ اوئې فرمائيل: **"د صبر په بدله کښې په لاس د راتلونکي ثواب په خوشحالئ کښې ما ته د زخم د تکليف هډو خيال رانغلو."**

(اَلْمَجالَسَةُ لِلدَّينوري ج ۳ ص ۱۳٤)

**اَميرُالمُؤمِنِين** حضرتِ عَلِيُّ الْمُرتَضٰی، شيرِخدا کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِيْم فرمائي: **د الله** عَزَّوَجَلَّ د عظَمَت او مَعرِفَت حق دا دې چه ته د خپل تکليف ګِيله مه کوه او مه د خپل مُصِيبَت ذِکر کوه. (مِنهاجُ القاصِدين و مُفيدُ الصادِقين لِاِبنِ جوزی ص ۱۰۵٦)

(بې ضرورته بيمارې پريشانې نورو ته ښکاره کول بې صبري ده، افسوس! معمولي نزله، زُکام يا د سر درد چه پرې راشي نو ځيني خلق فضول هر يو ته وائي [چه زه ناجوړه يم])

ٹوٹے گو سر پہ کوہِ بلا صبر کر ‏ ‏ ‏ اے مُبلِّغ! نہ تو ڈگمگا صبر کر

لب پہ حرفِ شکایت نہ لا صبر کر ‏ ‏ ‏ ہاں یہی سُنّتِ شاہِ ابرار ہے

د شعرونو ترجمه: اے مُبَلِّغه! که د غر هُمره مصيبتونه هم درباندې راشي، مه پريشانه کيږه، صبر کوه. په ژبه ګِيله مه راوړه، صبر کوه، آو دا سُنَّت د شاهِ ابرار دې.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصیب کیږي. (مَجْمَعُ الزَّوَائِد)

## د مُصِیبَت پټولو فضیلت

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** د بیمارو او د پریشانو د ګیلو کولو په ځائ د صبر عادت جوړول پکار دي ځکه چه په ګیلو کولو مُصِیبَت نه لرې کیږي بلکه په بې صبرئ کولو د صبر اَجر ضائع کیږي. بې ضرورته د **بیمارئ** او د **مُصِیبَت** ښکاره کول هم ښه خبره نه ده. چنانچه حضرتِ سَیِّدُنا **اِبنِ عَبّاس** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائي، چه رَسُولِ اَکرَم، نُورِمُجَسَّم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "**د چا په مال یا ځان کښې مُصِیبَت راغي بیا هغه هغه** [مُصیبَت] **پټ کړو او خلقو ته ئې د هغې ګیله اونه کړه نو په الله** عَزَّوَجَلَّ **حق دي چه د هغه بخښنه اوکړي.**" (مُعجَم اوسَط ج۱ ص ۲۱٤ حدیث ۷۳۷)

## د جامي د [غابښ] د درد نه اوده نه شوم! (حکایت)

**حُجَّةُ الْاِسْلَام** حضرتِ سَیِّدُنا اِمام مُحمّد غزالي رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نقل کوي: حضرتِ سَیِّدُنا **اَحنَف بِن قَیس** رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: یو ځل زما د جامي په غابښ داسې سخت درد شو چه ټوله شپه تر‌ې اوده نه شوم. ما په دویمه ورځ د خپل تره رَحْمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خدمت کښې ګِیله اوکړه چه "**زه د جامي د غابښ د درد نه ټوله شپه اوده نه شوم.**" دا خبره ما درې ځله اوکړه. په دې باندې هغوئي اوفرمائیل: تا په یوه شپه کښې په ځان د تیر شوي درد دومره زیاتي ګِیلي اوکړې! حالانکه **دیرش کاله** اوشو چه زما **سترګه** ضائع شوي ده، (اګر که خلقو ته معلومه وي خو پخپله ژبه) ما هیڅ کله هم چا ته د دې ګِیله نه ده کړې! (اِحیاءُ العُلوم ج٤ ص١٦٤) **دَ الله رَبُّ الْعِزَّت** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.** اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

# د بيمار د پاره تُحفه

د سرورِعالَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دې: چه کله يو بنده بيمار شي نو الله عَزَّوَجَلَّ د هغه طرف ته دوه فرښتې اوليږي چه لاړ شئ اوګورئ چه زما بنده څه وائي؟ بيمار که د الله تعالیٰ حمد و ثنا کوي (مثلاً اَلْحَمْدُلِلّٰهوائي) نو فرښتې د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې حاضري شي او د هغه قول [يعني خبره] عرض کړي او الله عَزَّوَجَلَّ ته ډيره ښه معلومه ده. الله عَزَّوَجَلَّ ارشاد فرمائي: " که ما دې بنده ته په دې بيمارئ کښې مرګ ورکړو نو دا به جَنَّت ته داخلووم او که صِحَّت مې ورکړو نو هغه ته به د مخکښې نه هم ښه غوښه او وِينه ورکووم او د هغه ګناه به مُعاف کړم."

(مُوَطّا امام مالِك ج٢ ص ٤٢٩ حديث ١٧٩٨)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د "فَضْلِ رَبّ" د پينځه حروفو په نِسبَت د بيمارئ د فضيلت په باره کښې 5 فرامِينِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

﴿1﴾ بيشکه الله عَزَّوَجَلَّ خپل بنده په بيمارئ کښې اخته کوي، اخته کوي تر دې چه د هغه هره ګناه ختمه کړي. (اَلْمُستَدرَك ج١ ص ٦٦٩ حديث ١٣٢٦)

﴿2﴾ کله چه مومن بيمار شي نو الله عَزَّوَجَلَّ هغه د ګناهونو نه داسې پاك کړي څنګه چه [د اور] بَټئ د اوسپنې زنګ پاك کوي.

(اَلتَّرغيبُ والتَّرهيب ج٤ ص ١٤٦ حديث ٤٢)

﴿3﴾ کله چه الله عَزَّوَجَلَّ يو مسلمان په بَدَني تکليف کښې اخته کړي نو فرښتې ته فرمائي: "کوم نيك عمل چه به ده د روغ صحت په حالت

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

کښې کولو د ده د پاره هم هغه اوليکه." بيا که الله عَزَّوَجَلَّ هغه ته شِفا ورکړي نو د هغه (ګناهونه) اووينځلې شي او هغه پاك شي او که د هغه مرګ راشي نو د هغه بخښنه اوکړې شي او په هغه رحم اوکړې شي.

(مُسندِ اِمام احمد بِن حَنبَل ج ٤ ص ٢٩٧ حديث ١٢٥٠٥)

﴿4﴾ د مريض ګناه داسې ريژي څنګه چه د ونې نه پاڼړې ريژي.

(اَلتَّرغيبُ والتَّرهيب ج ٤ ص ١٤٨ حديث ٥٦)

﴿5﴾ الله تعالٰی فرمائي: چه کله زه د خپل بنده نه سترګې واخلم بيا هغه صبر اوکړي، نو د سترګو په بدله کښې به هغه ته جَنَّت ورکووم.

(بُخاری ج ٤ ص ٦ حديث ٥٦٥٣)

## بغير بيمارئ مرګ

د **سرکارِمدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په زمانه کښې يو کس وفات شو نو چا اووئيل: "دا څومره بختور دې چه د **بيماريدو** نه بغير وفات شو." نو رَسُوْلُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "په تاسو افسوس دې! آيا تاسو ته معلومه نه ده چه که الله عَزَّوَجَلَّ هغه په څه بيمارئ کښې اخته کړې وې نو د هغه ګناهونه به ئې ختم کړي وو." (مُوَطّا امام مالِك ج ٢ ص ٤٣٠ حديث ١٨٠١)

## د يوې شپې د تبې ثواب

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** په تبه کښې بدن ته تکليف ضرور رسي خو د آخِرت فائدې پکښې بې شميره دي، لِهٰذا يريدل نه دي پکار، او د ګِيلو، قيصو کولو په ځائ په صبر کولو ثواب ګټل پکار دي. د حضرتِ سَيِّدُنا ابوهريره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې: څوك چه يوه شپه په تبه کښې اخته شي او په هغې صبر اوکړي او د الله عَزَّوَجَلَّ نه راضي اوسي نو د خپلو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

ګناهونو نه به داسې اوځي [يعني پاك به شي] څنګه چه په هغه ورځ وو كله چه هغه د موره پيدا شوې وو. (شُعَبُ الايمان ج۷ ص١٦٧ حديث ٩٨٦٨)

## تبه به ئې د مَحشر د اور نه بچ كړي

حُضُور تاجدارِ رِسالَت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يو بيمار تپوس اوكړو نو اوئې فرمائيل: ستا د پاره زيرې دې چه **الله** عَزَّوَجَلَّ فرمائي: **تبه زما اور دې**، ځكه زه دا په خپل مومن بنده باندې په دُنيا كښې مُسَلَّط كووم چه د قيامَت په ورځ د هغه [مومِن] د اور حِصّه (يعني بدله) اوګرځي. (ابنِ ماجه ج٤ ص١٠٥ حديث ٣٤٧٠)

## تبې ته بَده مه وائې

**سركارِ مدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرتِ سَيِّدَتُنا اُمِّ سائب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا خوا ته تشريف يوړلو. اوئې فرمائيل: په تا څه شوي دي چه رپيږې؟ عرض ئې اوكړو: "**تبه راغلې ده**، **الله** عَزَّوَجَلَّ دِ په دې كښې بركت نه اچوي." په دې خبره خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "تبې ته بَده مه وايه ځكه چه دا خو د انسان خطاګاني داسې لرې كوي څنګه چه بَټۍ د اوسپنې خِيرې [لرې كوي]." (مُسلِم ص ١٣٩٢ حديث ٢٥٧٥)

**مُفَسِّرِ شَهِير** حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتى احمد يارخان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: بيمارئ په يو يا دوه اندامونو وي خو تبه د سر نه واخله د ښپو پورې په هر رګ كښې اثر كوي، لِهٰذا دا به د ټول بدن خطاګاني او ګناهونه مُعاف كوي. (مِراٰۃُ المَناجيح ج٢ ص ٤١٣)

یہ ترا جسم جو بیمار ہے تشویش نہ کر
یہ مرض تیرے گناہوں کو مٹا جاتا ہے

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

**د شعر ترجمه:** دا ستا بدن چه بیمار دې نو خفه کیږه مه، [ځکه چه] دا مرض ستا ګناهونه ختموي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په سرکار ﷺ به د دوو سړو هُمره تبه راتله

**حضرتِ** سَیِّدُنا عبدُ الله اِبنِ مسعود رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه زه په بارګاهِ رِسالَت کښې حاضر شوم او چه کله مې حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته لاس اولګولو نو عرض مې اوکړو: یا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ستاسو خو ډیره **تیزه تبه ده!** اوئې فرمائیل: آو! **په ما ستاسو د دوو سړو همره تبه راځي.** ما عرض اوکړو: آیا دا په دې وجه چه ستاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د پاره دوه هُمره ثواب وي؟** اوئې فرمائیل: آو! (مُسلِم ص ۱۳۹۰ حدیث ۲۵۷۱)

## مونږه کله د چا بَد نه دي غوښتي!

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** ځینې خلق په بیمارو او پریشانو باندې بې صبرې کوي او دا وائي چه مونږه خو کله د چا بَد نه دي غوښتي، چا ته مو نقصان هم نه دې ورکړې، معلومه نه ده چه بیا هم په مونږه دا پریشانئ ولې [راځي]! د داسې خلقو د پاره په بیان شوې حدیثِ پاك کښې پوره پوره درس موجود دې، یقیناً زمونږ معصوم آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کله هم چا ته هیڅ نقصان نه وو ورکړې، بیا به هم زمونږ په خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نورو خلقو په مُقابَله کښې دوه **هُمره تبه راتله** نو معلومه شوه چه صرف د ''نورو نقصان کول'' د بیمارو او مصیبَتونو سَبَب نه وي، بلکه دا چه د بیمارئ او پریشانئ په بدله کښې د مسلمان د پاره د ثواب انبارونه

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

جمع كيږي، ګناهونه ئې مُعاف كيږي او د صبر كوونكي مسلمان د پاره د جَنَّت د حقدارئ باعث جوړوي.

## مريض او كلمهٔ كُفر

**څيني** وخت نادان خلق د بيمارئ او **مُصِيبَت** نه تنګ شي او په **الله** تَعالٰى اعتراض كوي او كُفريات وائي [يعني د كفر نه ډكې خبرې كوي]، يقيناً په داسې كولو د هغوئې بيمارې يا مُصِيبَت لرې كيږي نه بلكه د هغوئې آخِرت هم تباه كيږي. د مَكتَبَةُالمَدِينه په چاپ شوي كتاب "كُفريه كلمات كے بارے ميں سُوال جواب" صفحه 179 كښ دي: كه چا د **بيمارئ**، بې روزګارئ، غريبئ يا د څه مُصِيبَت په وجه په **الله** عَزَّوَجَلَّ اِعتراض اوكړو او اوئې وئيل: "اے زما ربه! ته په ما ولې ظُلم كوې؟ حالانكه ما خو يوه ګناه هم نه ده كړې." نو هغه **كافِر** دې.

زباں پر شکوۂ رنج و الم لایا نہیں کرتے
نبی کے نام لیوا غم سے گھبرایا نہیں کرتے

د شعر ترجمه: د نبي غلامان د غم او درد ګيلې نه كوي، او نه د غمونو نه يريږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ثواب په شوق كښ ئې تبه اوغوښتله

**د صحابهٔ كِرام** عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د ثواب ګټلو جَذبه په كروړونو مرحبا! چه د ثواب ګټلو په شوق كښ ئې دُعا اوكړه او **تبه** ئې حاصله كړه! چنانچه د **حضرتِ** سَيِّدُنا ابو سَعيد خُدرى رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دې چه يو مسلمان

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

عرض اوکړو: يارَسُوْلَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! مونږه چه په کومو بيمارو کښې اخته کيږو زمونږ د پاره په هغې کښې څه دي؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: (دا بيمارۍ د ګناهونو) ګفارې دي. [يعني د ګناهونو د مُعافۍ ذريعه ده] **حضرتِ** سَيِّدُنا اُبَـیٔ بِن کَعب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عرض اوکړو: يارَسُوْلَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اګرچه **بيماري** کمه هم وي؟ اوئې فرمائيل: "اګر چه ازغې [په ښپه، لاس وغيره کښې] لاړ شي يا بل څه تکليف ور اورسي." نو حضرتِ سَيِّدُنا اُبَـیٔ بِن کَعب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د خپل ځان د پاره دُعا اوکړه (يا الله): "د مرګه پورې **زما** نه **تبه** جدا مه کړې او [يا الله دا کرم اوکړې] چه دا تبه ما د حج، عُمره، د الله عَزَّوَجَلَّ په لاره کښې د جهاد نه او د فرض مونځ د جَمعې سره د ادا کولو نه منع نه کړي." بيا د هغوئي د وصاله [يعني د وفات کيدو د وخته] پورې چه چا هم هغوئي ته لاس لګولي دي نو د تبې تود والې ئې **محسوس** کړې دې. (مُسنَدِاِمام احمدبِن حنبل ج٤ ص٤٨ حديث ١١١٨٣) **د الله رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

يقيناً د مسلمان د پاره په بيمارو او پريشانو کښې د دواړو جهانونو خير دې، که **تبه** وي يا بل څه **بيماري** يا مُصِيبَت د هغه [کس] ګناه مُعاف کيږي او د جنَّت د ګټلو باعث جوړيږي.

بخار تيرے لئے ہے گنہ کا کَفّارہ    کرے گا صبر تو جنّت کا ہو گا نظارہ

د شعر ترجمه:
دا تبه ده ستا د پاره د ګناهونو کَفّاره
که اوکړې صبر، اوبه وِينې د جَنّت نظاره

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيْب!    صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (تِرمِذی)

## د اللّٰه په لار کښې د سر په درد د صبر کولو فضيلت

حُضورِ اَکرَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "څوک چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په لار کښې د سر په درد کښې اخته شي، بيا په هغې صَبر اوکړي نو د هغه تير شوي ګناهونه به مُعاف کړې شي." (مُسنَدالبَزّار ج٦ ص ٤١٣ حديث ٢٤٣٧)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د طَلَبۂِ علمِ دين او د مدني قافِلې د مسافرو د پاره زيرې

سُبحٰنَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ! د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په لار کښې د سفر کوونکو هم څه ښکلې شان دې! په دې حديثِ پاک کښې د مجاهدينو نه علاوه د عِلمِ دين طالبِ عِلمان، د حج او عُمرې د پاره د کور نه وتونکي او د سُنَّتو د تربِيَّت په مَدَني قافِلو کښې د عِلمِ دين د زده کولو د پاره سفر کوونکي عاشقانِ رَسُول هم شامل دي، ځکه چه دا ټول د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په لار کښې وي، لِهٰذا په دوئي کښې هم که د چا په سر درد شي نو اِن شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ د هغه تير [عُمر کښې] شوي (صغيره) ګناهونه به مُعاف کړې شي.

## د سر د درد په شُکرانه کښې 400 رکعته نفل (حکايت)

**منقول** دي چه د حضرتِ سَيِّدُنا فتح مَوصِلي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په سر درد شو نو خوشحاله شو، ارشاد ئې اوفرمائيلو: اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ما ته هغه مرض راکړو کوم به چه انبيائے کِرام عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام ته پيښيدو لِهٰذا اوس د دې شکرانه دا ده چه زه 400 رکعته نفل اوکړم. (152 رَحمت بھری حکایات ص ١٧١)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

## تبه او د سر درد مُبارَك مرضونه دي

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي ادارې مَكتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د 561 صفحو کتاب "ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت" صفحه 118 کښې دي: (اعلیٰ حضرت رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي:) د سر درد او تبه هغه مبارَك مرضونه دي کوم به چه انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام باندې راتلل، د يو وَلِيُّ الله رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په سر درد راغې، هغوئي د دې په شُکرانه کښې ټوله شپه په نفلونو ادا کولو کښې تيره کړه چه رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ په ما هغه مرض راوستې دې کوم به چه په انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام راتلو. اَللهُ اَکْبَر! دلته (د عوامو) دا حال دې که معمولي درد پرې راشي نو دا سوچ کوي چه زر مونځ اوکړم. بيا ئې اوفرمائيل: هر يو مرض يا تکليف چه د بدن په کوم ځائ وي هغه زياته کَفّاره د بدن د هغه حِصّې ده د کوم تَعَلُّق چه خاص د هغه [بيمارئ] سره وي، خو تبه هغه مرض دې چه په ټول بدن کښې خوريږي او په اِذن د الله عَزَّوَجَلَّ (تبه) د يو يو رګ نه ګناه اوباسي.

(ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت ص ۱۱۸)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## جَنَّتي زنانه (حِکايت)

**حضرتِ** سَيِّدُنا عَطاء بِن ابو رَباح رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ عَبّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا ما ته اوفرمائيل: آيا زه تاسو ته **يوه جَنَّتي زنانه** اونه ښائم؟ مونږ عرض اوکړو: ضرور ئې اوښائې. اوئې فرمائيل: دا حَبَشي زنانه، دا د نَبِيِّ کَرِيم، رَءُوفٌ رَّحِيم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمَت مبارَك کښې حاضره

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابن سنی)

شوه او عرض ئې اوکړو: يارَسُوْلَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زه د مِرګي[1] مريضه يم او د هغې په وجه زه رالويږم او بې پرده کيږم، لهٰذا د الله عَزَّوَجَلَّ نه زما د پاره دُعا اوکړئ. اوئې فرمائيل: "که ته غواړې نو صبر اوکړه او ستا د پاره جَنَّت دې او که غواړې چه زه د الله عَزَّوَجَلَّ نه دُعا اوغواړم چه هغه تا ته خير درکړي.[يعني تا جوړه کړي] " عرض ئې اوکړو: زه به صبر کووم. بيا ئې عرض اوکړو: (چه کله د مِرګي دوره راځي نو) زه بې پرده کيږم، د الله عَزَّوَجَلَّ نه دُعا اوغواړئ چه زه نه بې پرده کيږم. بيا خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغې د پاره دُعا اوفرمائيله. (بُخاری ج٤ ص٦ حديث ٥٦٥٢)

## دوا هُم سُنَّت ده او دُعا هُم [سُنَّت ده]

مُفَسِّرِ شَهير حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان عَلَیْہِ رَحْمَۃُ اللّٰہِ الْحَنَّان په مِراٰت جلد 2 صفحه 427 کښې فرمائي: د هغې مبارکې زنانه نوم سُعَيره يا سُقَيره دې د بي بي خَدِيجه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا د سر کمنز کولو او چونته کولو خدمت به ئې کولو. (لمعات ومرقات) (په مرګي کښې رالويږم او بې پرده کيږم) په دې باره کښې مُفتي صاحِب فرمائي: يعني چه را اولويږم نو زه د خپل بدن نه نه يم خبره، لوپټه وغيره مې د سرنه لرې شي، [د دې خبرې نه] يريږم چه چرې په بې هوشئ کښې مې سِتر ښکاره نه شي. او د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د طرف نه هغه صحابيه ته د "شِفا يا د صبر" د اختيار ورکولو مُتَعَلِّق مُفتي صاحِب فرمائي: په دې کښې اِشارَةً معلوميږي چه کله کله

[1] يوه بيماري چه د هغې په وجه په اندامونو کښې جټکې لګي.

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شریف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

په **بيمارئ** كښ عِلاج نه كول او په مُصِيبَت كښ دُعا نه كول هم په ثواب او صبر كښ شامل دي، دې ته خودكُشي نه وائي، خاص طور چه كله معلومه شي چه دا مُصِيبَت د رَبّ عَزَّوَجَلَّ د طرف نه ازميښت دې ځكه (حضرتِ سَيِّدُنا) اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلام د نمرود اور ته د داخليدو په وخت كښ او حضرتِ (سَيِّدُنا اِمام ) حُسَين (رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ) په ميدانِ كَربلا كښ د دفع (يعني د ازميښت د لرې كيدو) دُعا اونه كړه، ګني په عامو حالتو كښ **دوائي هم سُنَّت ده او دُعا هم** [سُنَّت ده]. (مِراٰةُ المَناجيح)

## د مِرګي روحاني علاج

سُوْرَۃُ الشَّمْس اولوَلئ او د مِرګي د مريض په غوږ كښ ئې اوپوكئ ډير فائده مند دي. (جنتی زیور ص ۶۰۲)

## د رَګ اَوُوښتلو فضيلت

اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہا فرمائي چه ما د ټولو نبيانو د سَروَر صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلې دې: چه كله د مومِن رګ واوړي نو اللہ عَزَّوَجَلَّ د هغه يوه ګناه ختموي، د هغه د پاره يوه نيكي ليكي او د هغه يوه درجه اوچتوي. (مُعجَم اوسَط ج۲ ص ۴۸ حديث ۲۴۶۰)

## د ګيډې په بيمارئ كښ د مړكيدو فضيلت

د سركارِ عالي وَقار، د مديني د تاجدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ راحت نِشان دې: مَنْ قَتَلَهٗ بَطْنُهٗ لَمْ يُعَذَّبْ فِيْ قَبْرِهٖ. يعني څوك چه د هغه د ګيډې (بيمارئ) مړ كړو هغه ته به د قبر عذاب نه كيږي. (ترمذی ج۲ ص ۳۳۴ حديث ۱۰۶۶)

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شریف کثرت کوئ بیشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (اَبُو یَعلیٰ)

مُفَسِّرِ شَهِیر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یارخان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې په شرح کښې فرمائي: یعني د ګیډې د بیمارئ نه مړکس به د قبر د عذاب نه محفوظه وي ځکه چه هغه ته په دُنیا کښې د دې مرض په وجه ډیر تکلیف رسیدلې وو، دا تکلیف د قبر تکلیف لرې کوونکې جوړ شو.
(مِراٰۃ ج۲ ص ۴۲۵)

## د "یاحُسَین" د شپږو حروفو په نِسبَت په شپږ قِسمه بیمارو کښې مړ کیدونکي شهیدان

### په ځینې مرضونو کښې مړ کیدونکې شهید دي

(1) "د ګیډې په بیمارئ کښې مړ کیدونکې." (د دې په حاشیه کښې صَدرُ الشَّرِیعه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د دې نه مُراد اِستِسقا (یعني داسې بیماري ده چه په هغې کښې ګیډه غټه شي او تَنده زیاته لګي) یا "دَستونه (یعني پیچش)" دواړه قولونه شته دي او دا لفظ د دواړو د پاره کیدې شي لِهٰذا د هغه د فضل نه اُمِّید دې چه دواړو ته به د شهادت اجر نصیب شي) (2) ذاتُ الْجَنْب(یعني د بدن د ډډې یا د پوښتئ په درد)کښې مړکیدونکې. (3) سِل (په دې مرض کښې په سږي [یعني پهیپهړو] کښې زخم پیدا شي او د مریض په خُله وِینه راځي، په دې) کښې مړکیدو والا. (4) د تبې نه مړکس. (5)د مِرګي د مرض نه مړ کس. (6) خوك چه په مَرَض کښې 40 ځله لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحَانَكَ اِنِّیْ کُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ اووائي او په هغه مرض کښې مړشي (هغه شهید دې) او که جوړ شي نو بخښنه به ئې اوشي.

(د تفصیل د پاره اوګورئ: د مَکتَبَةُ الْمَدِینه بهارِ شریعت ج۱ ص ۸۵۷ نه ۸۶۳ پورې)

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرانِي)

## د مریض د تپوس كولو ثواب

حضرتِ سَیِّدُنا ابوبكر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُم نه روایت دې چه حُضُورِ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: موسٰی (عَلَیْہِ السَّلَام) د **الله** عَزَّوَجَلَّ په بارګاه كښې عرض اوكړو: د مَریض **تپوس** كوونكې ته به څه اجر وركول شي؟ نو **الله** عَزَّوَجَلَّ اوفرمائيل: ”د هغه د پاره به دوه فرښتې مُقَرَّرې كړې شي او په قبر كښې به هره ورځ د هغه **تپوس** كوي تر دې چه قِيامَت راشي.“

(اَلْفِردَوس بِماثورِ الْخطات ج٣ ص ١٩٣ حديث ٤٥٣٦)

## بیمار ته د دُعا د پاره اووائې

د **حُضُورِ اَكرَم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: چه كله تاسو د يو **بيمار** خوا ته لاړ شئ نو هغه ته د خپل ځان د پاره د دُعا اووائې ځكه چه د هغه دُعا د فرښتو د دُعا په شان ده.

(اِبنِ ماجه ج٢ ص ١٩١ حديث ١٤٤١)

## د تپوس كولو د وخت يو سُنَّت

**حُضُور** تاجدارِ رِسالَت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يو اَعرابی د **تپوس** د پاره تشريف يوړلو او عادتِ كَريمه ئې دا وو چه كله به ئې د يو مريض د تپوس د پاره تشريف يوړلو نو دا به ئې فرمائيل: لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ اللّٰه. (يعني: هيڅ باك نشته كه **الله** تعالٰی اوغواړي نو دا مرض (د ګناهونو نه) پاك كوونكې دې) هغه اَعرابی ته ئې هم دا اوفرمائيل: لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ اللّٰه.

(بُخارى ج٢ ص ٥٠٥ حديث ٣٦١٦)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، څوک چه داسې کوي دَ قیامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کونکې او ګواه جوړیږم. (شُعَبُ الاِیمان)

# په تپوس کښې ووه ځله د لوستلو دُعا

د **حضرتِ** سَیِّدُنا اِبنِ عَبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا نه روایت دې چه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چا چه د یو داسې مریض **تپوس** اوکړو چه د هغه د مرګ وخت نِزدې نه وي راغلې، او ووه ځله دا الفاظ اولولي نو **الله** عَزَّوَجَلَّ به هغه ته د هغه مَرَض نه شِفا ورکړي: اَسْأَلُ اللّٰهَ الْعَظِيْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَنْ يَّشْفِيَكَ یعني زه د عظَمَت والا، د عرشِ عظیم د مالِك **الله** عَزَّوَجَلَّ نه ستا د پاره د شِفا سوال کووم. (ابوداؤدج۳ص۲۵۱ حدیث۳۱۰۶)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ”چل مدینه“ د ووه حروفو په نِسبَت د تپوس 7 مَدَنې ګلونه

(1) د مریض **تپوس** کول سُنَّت دي. (2) که دا معلومه وي چه که **تپوس** له ورشم نو په هغه بیمار به بده اولګي نو په داسې حالت کښې **تپوس** له مه ورځئ. (3) که **تپوس** له لاړ شي او مَریض سخت وي نو د مریض په مخکښې دِ دا نه وائي چه ستا حال خراب دې او نه دِ داسې سر ړقوي چه د هغې مطلب د حالت خرابیدل اوګنړلې شي. (4) د هغه په مخکښې داسې خبرې کول پکار دي چه د هغه زړه پرې خوشحالیږي. (5) د هغه د طبِیعَت په باره کښې دِ تپوس اوکړي. (6) د هغه په سر دِ لاس نه ګرځي خو که هغه پخپله د دې خواهش اوکړي [نو بیا دِ ئې په سر لاس کیږدي] (7) د فاسِق **تپوس** هم جائز دې ځکه چه **تپوس** د اسلام په حقونو کښې شامل دې او فاسِق هم مُسلمان دې. (بهارِشریعت ج۳ حِصّه۱۶ ص۵۰۵ مُلَخَّصاً)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## بيماري او دروغ

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! په كرورونو افسوس! ډير نازُك دور دې، د "دروغو" وئيلو په شان حرام او جَهَنَّم ته بوتلونكي كار نه هم د بچ كيدو سوچ ډير كم پاتي دې، نه د **الله** عَزَّوَجَلَّ يره شته او نه د مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه حيا [شته]، نه د عذابِ قبر انديښنه شته او نه د دوزخ يره [شته]! بس لكه هر طرف ته چه **دروغ! دروغ!** او بس **دروغ** دي! يقين اوكړئ! كه بيمار وي او كه د هغه خدمت كوونكې، كه مريض وي او كه د مريض تپوس كوونكې، خپلوان، دوست يا محلّې والا، چا ته چه اوګورئ! نو ښه په بې پرواهئ دروغ وائي. ولې چه دا رساله د **بيمارئ** مُتَعَلِّق ده، لِهٰذا اُمَّت سره د خير ښيګړې په نِيَّت د "بيمارئ" د يو څو جُدا جُدا عُنواناتو مُتَعَلِّق د **دروغو وئيلو څه مثالونه** وړاندې كيږي.

## مَعمولي بيمارئ ته د سختې بيمارئ وئيلو مُتَعَلِّق د دروغو شپږ مثالونه

د **كوم** قِسم مُبالَغې چه عادةً رواج دې او خلق هغه مُبالَغه هم ګڼړي او د هغې حقيقي معنٰی مُراد نه ګڼړي هغه په دروغو كښې داخل نه دي، مَثَلاً دا ئې اووئيل چه زه ستا خوا ته زر ځلې راغلې يم. يا دا چه زر ځلې مې درته دا وئيلي وو. په داسې جُملو كښې د زر شمير مراد نه دې بلكه ډير ځله راتلل او ډير ځله وئيل مراد دي، خو دا لفظ به په داسې موقع نه استعماليږي چه يو ځل راغلې وي او يو ځل ئې وئيلې وي او كه يو

ځَل راغلې وي او دا ئې اووئیل چه زر پیرې راغلې ووم نو **دروغ** شو. (رَدُّالمُحتار ج۹ص۷۰۵)

**(1)** **ځیني** وخت د بیمارئ په ذِکر کښې داسي مُبالَغې کیږي چه په عُرف و رواج کښې خلق د دومره بیمارئ بیانولو د پاره د مُبالَغې الفاظ نه استعمالوي، مَثلاً څوك مَعمولي غوندې بیمار وي نو د هغه په باره کښې دا وئیل: ''د هغه طبیعت ډیر سخت ناسازه دې'' **دا دروغ** دي **(2)** په حقیقت کښې په اِجتماع وغیره کښې د بل څه په وجه نه وو شریك شوې او اِتفاقًا لږ معمولي شان بیمار هم وو خو د غیرحاضرئ سَبَب بیماري نه وه، د دې باوجود داسې وئیل: ''زه سخت بیمار ووم ځکه رانغلم.'' په دې خبره کښې د ګناه نه ډك دوه **دروغ** شامل دي! **(الف)** مَعمولي شان بیمارئ ته ''سخته بیماري'' وئیل، **(ب)** بیماري ئې د غیرحاضرئ سبَب اوګرځوله حالانکه سَبَب بل څه وو **(3)** دغه رنګ په معمولي تبه کښې داسې وئیل: ''زما دومره تیزه تبه وه چه ټوله شپه ترې نه یم اوده شوې'' **(4)** که د کار د پاره ورته اووئیل شي نو د معمولي ستړې کیدو باوجود د ځان خلاصَوَلو د پاره داسې وئیل:''زه ډیر ستړې یم، بل چا ته د کار اووایه'' او که صرف دومره اووائي: ''**زه ستړې یم** [بل چا ته د کار اووایه]'' نو دروغ نه دي. یا **(5)** که معمولي شان درد وي نو داسې وئیل: زما په زنګونانو سخت درد دې. **(6)** هم دغه شان په عدالَت کښې د پیشئ وغیره نه د بچ کیدو د پاره معمولي بیمارئ ته غټه وئیل مَثَلاً: د هغه د زړه وال بند دې، د زړه دوره پرې راتلې شي [ځکه رانغلو] وغیره.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

## د تكليف باوجود د نيكو نه د ډك جوابونو مثالونه

د بيمار په تپوس كولو كښې اكثر رسمي [رواجي] تپوسونه كيږي مَثَلاً: څه حال دې؟ خير دې؟ ښه ئې؟ تاسو څنګه ئې؟ صِحَّت دِ څنګه دې؟ نور وايه طبِيعت دِ ښه دې؟ ټيك ټاك ئې؟ څه پريشاني خو نشته؟ وغيره وغيره. تجرِبه دا ده چه عام طور پوښتنه كوونكې صرف د خبرو د پاره څه وائي، په حقيقت كښې ئې د هغه مريض د طبيعت سره څه غرض نه وي. اوس هغه كس كه بيمار وي يا په څه پريشانئ كښې اخته وي يا قرضدار وي يا په نورو مشكلاتو كښې نښتې وي او د خپلو مرضونو او تكليفونو قِصې بيانول شروع كړي نو تپوس كوونكې به پريشانه شي [چه ولې مې ترې تپوس كولو]! لِهٰذا د چا نه چه د طبيعت په باره كښې پوښتنه اوشي نو هغه كه غواړي نو د الله تعالیٰ د شُكر ادا كولو په نِيَّت دِ مختلف نعمتونه مَثَلاً د ايمان دولت نصيب كيدل، د خوږ پيغمبر صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمّتي كيدل وغيره په زړه كښې ياد كړي او داسې جوابونه دِ وركړي او ثواب دِ او ګټي: (۱) اَلْحَمْدُلِلّٰه (۲) اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ (يعني په هر حال كښې د الله شُكر دې) (۳) د الله تَعالٰى ډير كَرَم دې (٤) د الله تَعالٰى رَحمت دې وغيره.

هم دغه شان دِ د الله تَعالٰى وركړې شوي نورو نعمتونو په مقابَله كښې خپل تكليفونه كم اوګڼړي او د الله تَعالٰى د شُكر ادا كولو په نِيَّت يا د رَحمتِ اِلٰهى په اُمِّيد دِ بيان شوي جوابونو كښې يو جواب وركړي.

**ياد ساتئ!** كه چا مريض ته اووئيل چه څنګه ئې او د مريض توجُّه خو بيمارئ ته وي او د هغې باوجود د شريعت د اجازت نه بغير په خُله

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

اَلْحَمْدُلِلّٰه، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ، د **الله** تَعالٰى فضل دې، وائي. يا بله داسې يوه خبره کوي چه د هغې مقصد په بيمارئ کښې د اخته کيدو باوجود د هُم هغه مَرَض نه خپل صِحت روغ بيانول وي نو دا د ګناه نه ډك دروغ دي.

## د طبيعت د پوښتنې په جواب کښې د دروغو وئيلو 9 مثالونه

**چه کله** د چا نه تپوس اوکړې شي: ستاسو طبيعت څنګه دې؟ نو د طبيعت ناسازه کيدو باوجود ځينې وخت داسې جوابونه ورکوي: (١) ښه يم (٢) ډير ښه يم (٣) بالکل جوړ يم (٤) طبيعت مې بالکل ښه دې (٥) طبيعت مې اے وَن دې (٧) د هيڅ قِسمه تکليف راته نشته (٧) په مزو کښې يم (٨) هيڅ څه مسئله نشته (٩) بالکل فِټ يم.

د **مريض** د طرف نه ورکړې شوې دا نهه جوابونه د ګناهونو نه ډك **دروغ** دي. البَته د مريض په جواب ورکولو کښې که څه صحيح تاوِيل (يعنې د بچ کيدو د رښتياو دليل) يا صحيح نِيَّت وي نو د ګناه نه بچ کيدل ممکِن دي خو عام طور بغير د څه نِيَّت نه د ذِکر شوې يا د دې په شان نور د **دروغو جوابونه** ورکول شي. خو که بيمارئ ته ئې فِکر نه وي، لکه عارضي يعني وقتي طور چه کله آرام وي نو ځينې وخت د بنده نه خپله بيماري هيره شي، نو که په داسې حالت کښې ئې ”جوړ يم“ وغيره اووئيل، نو ګناه نه ده. هم دغسې په معمولي بيمارئ کښې هغه بيماري د يادولو لائقه نه ګنړلو يا په مَرَض صحيح کيدو يا چه معمولي شان پاتې وي نو په دې صورت کښې ”جوړ يم“ وئيلو کښې هم باك نشته، البَته په داسې موقع

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود په ما پيش كيږي. (طَبَرانِي)

باندې داسې وئيل چه، بالكل جوړ يم، طبيعت مې بالكل صحيح دې، بالكل فِټ يم، هيڅ څه مسئله نشته او د دې په شان نور الفاظ وئيل د ګناه نه ډك **دروغ** دي.

## د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَال وئيلو يو نِيَّت

كه **يو كس** د طبيعت پوښتنه اوكړي او د مَريض د خُلې نه بغير د څه نِيَّته بې اِختِياره اووځي: ”اَلْحَمْدُ لِلّٰه“ نو په دې كښې څه باك نشته. يا **بيماري** خو ورته ياده ده خو ”اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ“ (يعني په هر حال كښې د **الله** عَزَّوَجَلَّ شُكر دې) ئې د ”جوړ يم“ په معنٰى كښې نه بلكه په هر حال كښې د **الله** عَزَّوَجَلَّ د شُكر ادا كولو په نِيَّت اووئيل: نو په دې صورت كښې هم **دروغ** نه دي.

## مريض ته د تَسَلِّـي وركولو، د دروغو 13 مثالونه

(كومه خبره چه د رښتيا خلاف وي هغه دروغ دي)

لاندې چه كومې خبرې بيانيږي په دې كښې [ځينې جُملې] دروغ هم كيدې شي او [ځينې] دروغ نه هم شي كيدې، هم دغسې د دې د وئيلو د اجازت صورت هم كيدې شي او نه هم شي كيدې، لِهٰذا كه چرې بل څوك دا خبرې اوكړي نو مونږ ته د هغه په باره كښې د ګنهګاريدو بدګمانئ كول نه دي پكار، البَته كه مونږ چرې پخپله داسې خبره كوو نو مونږ ته د خبرې د صداقت او د خپل نِيَّت په باره كښې خيال ساتل پكار دي. د پوهه كولو د پاره يو مِثال عرض كوو، هغه دا چه كه يو سړې زمونږ په

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمِذِی)

مخکښ د غوړو نه ډك طعام اوخوړلو او بيا ئې [زمونږ په مخکښ] بل كس ته اووئيل چه زه پرهيز كووم نو ضروري نه ده چه دا دروغ وائي، ځكه چه كيدې شي چه ډاكټر ورته په مياشت كښ يو ځل د داسي خوراك كولو اِجازت وركړې وي يا د دې خبرې كولو په وخت كښ د هغه خيال د غوړ خوراك طرف ته نه وي. هم دغسې په باقي خبرو كښ هم ډير اِحتمالات او قياسات كيدې شي. (١) تاسو خو مَاشَآءَالله ډير د صبر (يا هِمّت) والا ئې (٢) تاسو خو ډير ډير تكليفونه برداشت كړي دي خو كله مو "اُف" [فرياد] نه دې كړې (٣) تاسو خو هميشه صبر كړې دې (٤) واه! واه! ستاسو رنګ خو ښه شوې دې (٥) مَاشَآءَالله اوس خو تاسو بالكل جوړ شوي ئې! (٦) تاسو خو هډو بيمار ښكارئ نه! (٧) ستاسو بيماري ختمه شوي ده! (٨) نه! نه! په تاسو خو هيڅ نه دي شوي (٩) مُبارَك شه! ستاسو ټول رپوټونه صفا راغلي دي (١٠) د خطرناك مَرَض نه د خبريدو باوجود داسې وئيل: "هيڅ د يرې خبره نه ده، ډاكټران خو هسې يرول كوي." [او څه جُملې بالكل دروغ وي مثلًا] (١١) فُلانكې هم په دې مرض كښ اخته وو، په دوو ورځو كښ جوړ شوې وو تاسو به هم زر جوړ شئ (د كوم مريض حواله چه وركوي هغه د حقيقت په دُنيا كښ هډو وي نه) (١٢) د سختې تبې د مريض په نبض [يعني رګ] د لاس ايښودو په وخت كښ قصداً داسې وئيل: "نه وروره! نه! ستا هيڅ تبه مبه نشته" (١٣) چه په زړه كښ ئې داسې نه وي او صرف د تَسَلّئ د پاره سخت بيمار ته داسې اووائي: "وروره! تاسو خو په وړوكي شان بيمارئ كښ زړه اوبيلَلو!"

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاك او نه لوستو هغه د جَنّت لاره پريښوده. (طَبَرانِي)

## د مريض د دروغو وئيلو 13 مثالونه

(کومه خبره چه د رښتيا خلاف وي هغه دروغ دي)

(1) د کينسر وغيره د انديښنې په موقع داسې وئيل: "ما ته د خپلې بيمارئ هيڅ پرواه نشته، بس د وړو وړو ماشومانو د پاره فِکرمند يم" (2) زه بالکل وَس نه لرم، زه د علاج خرچ نه شم برداشت کولې (حالانکه ډير مال ئې جمع کړې وي) (3) د وَس لرلو باوجود د خلقو همدردئ حاصلوَلو د پاره وئيل: زما سره خو د ډوډئ د پاره پيسې هم نشته د علاج د پاره ئې د کوم ځائ نه راوړم! (4) زه مکمل پرهيز کووم (حالانکه که چرې دعوت وي نو "جناب [يعني هغه]" د ټولو نه مخکښې رسيدلې وي) (5) ډاکټر صاحِب! بالکل په وخت وخت دوائي خورم (حالانکه ښې ناغې پکښې کوي) (6) د شوګر مريض وائي: زه خو متهائي څکم هم نه (حالانکه د متهائي خوړلو نه زړه نه شي صبرَولې) (7) يو غټ دروند کس ته چه د وزن کمولو همدردانه مشوره ورکړې شي نو په جواب کښې وائي: زه خو په خوراك کښې ډير اِحتِياط کووم (حالانکه که سره کړې غوښه وي، که شربَت وي که يخې بوتلې وي که قورمه وي که برياني وي، که کباب وي که سموسې وي. څه چه مخې له ورځي، اسره پرې نه کوي!) (8) د مَرَض طرف ته د تَوَجُّه کيدو باوجود داسې وئيل: بنه ټِيك ټاك يم (9) زه څه بيمار خو نه يم (10) د ګيلو قيصو کولو نه پس داسې وئيل: "زه خو ډير صبر کووم" (دا به هله د ګناه نه ډك دروغ ګڼرلې شي چه د وئيلو په وخت کښې ئې د صبر تعريف په ذهن کښې وي) (11) د تکليف کيدو باوجود داسې وئيل: "نه! نه! ما ته هيڅ تکليف نشته!"

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

(12) د بيمارئ غم نه لرم د خپل وخت په ضائع کيدو افسوس راځي.

(13) د خيراتي شِفاخانې نه د مُفت [يعني بې پيسو] علاج کولو باوجود داسې وئيل: "د علاج ټوله خرچه ما پخپله برداشت کړې ده چا راته د امداد کولو د دروغو سَت هم نه دې کړې."

## د بيمارو 78 روحاني علاجونه

(بيان شوي طِبّي او کورني علاجونه د خپل طبِيب په مشوره کوئ)

## دَ تبې څلور روحاني علاجونه

(1) د تبې مريض دِ په کثرت سره بِسۡمِ اللّٰهِ الۡکَبِيۡر لوَلي.

(2) که د ګرمۍ تبه وي نو يَاحَيُّ يَاقَيُّوۡمُ 47 ځله اوليکئ (يا ئې په بل اوليکئ) او پلاسټك کوټنګ ئې کړئ او په خرمن يا رَيګزين يا رَخت [يعني کپړه] کښې ئې اوګنډئ او په غاړه ئې کړئ اِنۡ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ **تبه** به لاړه شي.

(3) يَا غَفُوۡرُ په کاغذ باندې درې ځله اوليکئ (يا ئې په بل اوليکئ) او پلاسټك کوټنګ ئې کړئ او په خرمن يا رَيګزين يا رَخت [يعني کپړه] کښې ئې اوګنډئ او په غاړه ئې کړئ يا ئې په مټ اوتړئ اِنۡ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د هر قِسمه تبې نه به خلاصې اومومئ.

(4) لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ 30 ځله په کاغذ اوليکئ او د اوبو په بوتل کښې ئې واچوئ، مَريض ته په ورځ کښې درې پيرې هغه اوبه لږې لږې ورکوئ اِنۡ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ **تبه** به ئې ختمه شي، د ضرورت مطابق پکښې اوبه شاملوئ. (د علاج موده: د شِفا حاصليدو پورې)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (اِبنِ بشكوال)

## (5) د داسي تبې روحاني علاج چه په دوايانو نه ښه كيږي

د دې عمل په دوران كښې دِ مريض تاريزي [يعني د خالصې پومبې د تار، COTTON] جامې اغوندي (چه د كے تې يا د بل مصنوعي تار نه، نه وې جوړې شوې) اوس يو صحيح قرآن لوستونكې دِ په اوداسه كښې هر ځل د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم سره په اوچت آواز 21 ځله سُوْرَةُالْقَدْر داسې اولولي چه مريض ئې اوري، مريض دِ پرې هُم دَم كړي او په بوتل كښې اوبه دِ هم پرې دَم كړي. مريض دِ وخت په وخت د هغې اوبو نه څښې. دا عمل درې ورځې مسلسل اوكړئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ **تبه** به لا ره شي.

## (6) د خوب نه راتلو دوه روحاني علاجونه

چا ته چه د درد په وجه خوب نه ورځي نو د هغه خوا ته لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ په كثرت سره [يعني ډيرځله] د لوَستلو سره به هغه له اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ خوب ورشي او د **اللّٰه** رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ په رَحمت به مريض زر جوړ شي. (په داسې آواز چه مريض ئې نه اوري، دا احتياط كوئ)

(7) كه خوب نه درځي نو لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 11 ځله اولولئ په خپل ځان ئې دَم كړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ خوب به درشي.

## د ځناورو [او خزندؤ] د چيچلو او د هغوئ نه د حفاظت 3 روحاني علاجونه

(8) [د بدن] كوم ځائ چه زهريله **ځناور** [يا خزنده يعني مار، لړم وغيره] چيچلي وي د هغه ځائ نه چاپيره كوته تاوهئ او په يوه ساه كښې ووه

فرمَانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډېر نيزدې هغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

ځله بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ اولولئ او پرې دَم ئې كړئ اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ د زهرو اثر به ختم شي.

(9) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 11 ځله اوليكئ (يا ئې په بل اوليكئ) او د پيدائش نه فوراً پس ماشوم اولمبوئ او ور په غاړه ئې كړئ اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ **د مُوذی** [يعني ضَرَري] **ځناورو،** [خزندؤ] **او د پيچش** د مرض نه به په حِفاظت كښې شي.

(10) كه په لاره كښې درته سپې غاپي او حمله كول غواړي نو يَا حَيُّ يَا قَيُّوۡمُ درې ځله اولولئ اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ سپې به چپ او خاموشه بيرته روان شي.

## د پيريانو د آثراتو 3 روحاني علاجونه

(11) بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ 21 ځله چه څوك د اودوه كيدو په وخت كښې اولولي، په هغه شپه به هغه د هر قِسمه ناځاپه حادثو، د **شرارتي انسانانو او پيريانو** د حملو نه او د ناځاپه مرګ نه **محفوظه** اوسي. اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ

(12) يَا اَللّٰهُ يَا حَيُّ يَا قَيُّوۡمُ په چا چه پيريان راځي هغه دِ په كثرت سره د دې وظيفه كوي، اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ پيريان به ترې لاړ شي.

(13) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 41 ځله اوليكئ (يا ئې په بل اوليكئ) او پلاسټك كوټنګ ئې كړئ او په څرمن يا رَيګزين يا رَخت [يعني كپړه] كښې ئې اوګنډئ او په غاړه ئې كړئ يا ئې په مټ اوتړئ اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ [د پيريانو] **اثرات** به لرې شي.

## (14) كه په خوب كښې مو څه څيز تنګوي يا.....

كه خوب نه درځي يا د يَرې خوبونه وِينئ، كه په خوب كښې داسې محسوسوئ چه په بدن مو څه وزن پروت دې يا داسې **محسوسوئ** لكه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هير کړل هغه دَ جنّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

خوك چه مو زور كوي، او د پيريانو، جادو وغيره مصيبَت او آفت نه د حِفاظت د پاره د اوده كيدو په وخت كښې ټول عمر هره ورځ بغير د ناغې نه دا عمل كوئ: د دوارو لاسونو ورغوي [تَلي] خواره كړئ او دري واره قُل شريف (يعني سُوْرَةُ الْاِخْلاص، سُوْرَةُ الْفَلَق او سُوْرَةُ النَّاس) يو يو ځل اولولئ او هغه [ورغوي] پرې دَم كړئ او په سر، مخ، سينه باندې او مخې ته او شا ته مو چه كوم كوم ځائ ته لاس رسي په ټول بدن ئې راښكارېئ، بيا په دويم او دريم ځل هم داسې اوكړئ اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې فائده به پخپله اووينئ.

## د جادو دوه روحاني علاجونه

(15) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ چه 101 ځله اولوستې شي او په چا چه سِحر (يعني جادو) شوې وي هغه پرې دَم كړې شي يا دا اوليكلې شي او [هغه خښت] په اوبو كښې واچولې شي او هغه اوبه پرې اوڅښلې شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د سِحر (يعني د جادو) اثر به ختم شي.

(16) د **مريض** د سر نه واخله د ښپې د غټې ګوتې پورې د آسماني رنګ يوولس د چِيټ [يعني د خالِصې پومبې، COTTON] تارونه ناپ كړئ، دا يوولس واره تارونه [په اوګدو يو ځائ كړئ او] دوه ځله ئې رامات كړئ، او د تارونو [سرونه را يو ځائ كړئ او] يوه سَسته غوټه وركړئ، بيا يو ځل سُوْرَةُ الْفَلَق اولولئ او په دې غوټه كښې ئې پوك كړئ او فوراً ئې كلكه كړئ، په دې طريقه د يَوولس غوټو وركولو نه پس تارونه په سرو سكروټو د پاسه واچوئ. (كه د ګيس په نَغري [يعني چوله] باندې چه تبخي كيږدئ او تود ئې كړئ نو په هغې ئې هم سوزَوَلې شئ) كه **جادو** وو نو خراب بوئ به اوكړي،

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

تر څو چه ترې خراب بوئ راځي تر هغې پورې هره ورځ يو ځل دا عمل کوئ، اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د جادو آثر به ختم شي.

## د فالِج او لَقوې دوه روحاني علاجونه

(17) لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 11 ځله په نوې رکيبئ اوليکئ او اوئې ښخښئ اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د لَقوې نه به خلاصې اومومئ. [لقوٰى داسې مرض دې چه خُله پڅښن کړه شي]

(18) يَا اَللّٰهُ 100 ځله د اوده کيدو په وخت لوستلو سره اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د شيطانانو د شرارت نه او د فالِج او د لَقوې د آفت به مو حِفاظَت کيږي.

**د لَقوې کورنې علاج:** مغزِ رِيتها د ضرورت مطابِق (د جررو، بوټو د دوايانو د دُکان نه) واخلئ او اوئې تکوئ، بيا پڅښن خالِص شهد [ګبين] واچوئ او د چنې هُمره ګولئ ترې جوړې کړئ، يوه يوه ګولئ سحر مانبام خالِص د شودو والا ترہِ چائے [يعني دوده پتّي] سره اوخورئ. يو څو ورځې يا يو څو هفتې يا يو څو مياشتې استعمالولو سره به اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ شِفا نصيب شي.

## د هَيپاټائِټِس [تور زيړی] روحاني علاج

(19) د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ سره سُوۡرَۃُ قُرَیۡش يو ځل اولولئ (يا دِ ئې بل يو اولولي) (مخکښې وروسته ترې 11 ځله درود شريف اولولئ) **آبِ زَم زَم شريف** يا هغه اوبه پرې دَم کړئ چه په هغې کښې د آبِ زَم زَم شريف يو څو څاڅکي شامِل وي. او هره ورځ ئې سحر، غَرمه او مانبام څښئ. اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ په 40 ورځو کښې به دننه دننه شِفا اومومئ. (صِرف يو ځل دَم شوې اوبه کافي دي د ضرورت مطابِق پڅښن نورې اوبه اچوئ)

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِیامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصیب کیږي . (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

## د یَرقان [یعني عام زیړي] 4 روحاني علاجونه

(20) که په ورو‌کي ماشوم زِیَړي راشي نو هرځل د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ سره سُوۡرَۃُ الۡفَاتِحَہ21 ځله اولولئ او پیاز پرې دم کړئ او هغه [ماشوم] ته ئې په غاړه کړئ. اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ شِفا به حاصله شي.

(21) سُوۡرَۃُ الۡبَیِّنَہ اولیکئ او تعویذ ترې جوړ کړئ او ور په غاړه ئې کړئ اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ **زیړي** به ختم شي.

(22) سَبَّحَ لِلّٰہِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الۡاَرۡضِ ۚ وَہُوَ الۡعَزِیۡزُ الۡحَکِیۡمُ ﴿۱﴾ (پ۲۸، الحشر:۱) 101 ځله اولولئ اوبه پرې دَم کړئ او د زیړي په مریض ئې اوڅښئ اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ ډیر زیات فائده مند دي.

(23) **یَاحَسِیۡبُ** 300 ځله اولولئ او اوبه پرې دَم کړئ، د یَوویِشت ورځو پورې څښلو سره به اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ د **زِیَړي** نه شِفا حاصله شي.

## د غابنونو د درد 2 روحاني علاجونه

(24) د سُوۡرَۂ یٰسٓ دا آیت: سَلٰمٌ ۟ قَوۡلًا مِّنۡ رَّبٍّ رَّحِیۡمٍ ﴿۵۸﴾ درې ځله اولولئ خپله ګوته پرې دم کړئ او په غابنونو ئې اومږئ اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ درد به ختم شي.

(25) **یَااَللّٰہُ** 7 ځله اولیکئ (یا ئې په بل اولیکئ) او د تعویذ په شان ئې را اونغاړئ (بهتره داده چه پلاستك کوتنګ ئې کړئ) په غابښ کښې ئې اونیسئ اِنۡ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ د غابښ درد به ختم شي.

**د غابښ د درد کورنۍ نُسخه:** که په ورو کښې مو درد یا پړسوب وي، یا ترې نَو راځي نو تقریباً پینځه ګرامه خوږۍ په یو ګلاس اوبو کښې تَوده کړئ،

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

چه خَوړئ په اوبو کښې وِیلې شي نو هغه په غاښونو او ورو اومږئ، که په ورو کښې درد یا پړسوب وي، یا نَو کوي نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ فائده به حاصله شي.

## (26) د غاښ د درد یو مفید عمل

که په غاښ مو سخت درد وي نو په اوداسه کښې سُوْرَۂ قُرَیْش 21 ځله اولولئ او مالګه پرې دَم کړئ او هغه مالګه د درد په غاښ اومږئ او د غاښونو په مینځ کښې ئې کیږدئ، په ورځ کښې دوه درې ځله د دې عمل کولو سره به اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ فائده حاصله شي.

## (27) د تِریخي او مثانې د کانړې روحاني علاج

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 46 ځله په ساده کاغذ اولیکئ په اوبو کښې ئې اووِینځئ او اوئې څښئ د **تِریخي** او **مَثانې** کانړې به اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ریزه ریزه شي او اوبه اوځي. (د علاج موده: د شِفا حاصلیدو پورې)

## د کچه پپیتې په ذریعه د ګردې او تِریخي علاج

په **کچه** پپیته باندې سپینه یا توره مالګه اچوئ او لږ شان میده تور مرچ هم پرې اچوئ او په ورځ کښې ئې درې ځله (تقریباً لس لس ګرامه) په خُله کښې صحیح میده کوئ او خورئ ئې، که په خُله کښې میده کول ئې ګران وي نو په ټکولو ئې میده کوئ او استعمالوئ ئې اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ګُردې (او تِریخي) کانړې به اوځي. په زیات مقدار کښې ئې مه خورئ ځکه چه دا دروند او په هاضمه کښې سخت وي (اګرچه د نورو څیزونو په زر هضمَولو کښې مدد ورکوي)

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات کنجُوس(شوم) دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

## د ګردې او د وړو بَولو د بیمارۍ 3 روحاني علاجونه

(28) وَ قِیۡلَ یٰۤاَرۡضُ ابۡلَعِیۡ مَآءَکِ وَ یٰسَمَآءُ اَقۡلِعِیۡ وَ غِیۡضَ الۡمَآءُ وَ قُضِیَ الۡاَمۡرُ وَ اسۡتَوَتۡ عَلَی الۡجُوۡدِیِّ وَ قِیۡلَ بُعۡدًا لِّلۡقَوۡمِ الظّٰلِمِیۡنَ ﴿۴۴﴾ (پ۱۲، هُود: ٤٤) که واړه بَول ساعت په ساعت او لږ لږ کیږي نو د هغې د پاره دا آیاتِ کریمه اولیکۍ (یا ئې په بل اولیکۍ) او په مټ ئې اوتړۍ یا ئې په غاړه کړۍ نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ شِفا به حاصله شي.

(29) یو ځل اَوَّل آخِر درود شریف اولولۍ او هر ځل د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ سره سُوۡرَۃُ اَلَمۡ نَشۡرَحۡ 7 ځله اولولۍ او دَم ئې کړۍ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د **ګردې درد** به ختم شي.

(30) د ګُردو د بیمارۍ په وجه که واړه بَول لږ لږ کیږي یا بَول سوَزي او [د کولو په وخت کښې] درد غوندې کوي، او یوه دوائي پرې هم اثر نه کوي نو په اوداسه کښې د باران په اوبو هر ځل د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ سره سُوۡرَۃُ اَلَمۡ نَشۡرَحۡ یوولس ځله اولولۍ او دَم ئې کړۍ او په ورځ کښې څلور ځله (سحر د ناشتې نه مخکښې، ماسپیښین، د مازدیګر نه پس او د اوده کیدو په وخت کښې) درې درې ګوټه هغه اوبه څښئ. هر ځل د څښلو نه مخکښې ووه ځله درودِ اِبراهیم لولۍ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ګُردې بیماري او د وړو بَولو سوزیدل وغیره به ختم شي.

## د ګُردې د بیمارۍ د پاره طِبّي نُسخه

هره ورځ سحر په نَهَره [یعني خالي ګیډه] (د طِبیب په اِجازت) درې ګرامه خوږه سوډا د اوبو سره استِعمالوۍ ، که تَنده مو وي او که نه خو د زیاتو

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَ جُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

نه زياتې اوبه څښېږئ. په يَوولس ورځو كښې به اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ آرام حاصل شي. كه مَرَض زوږ وي نو د 41 ورځو پورې دا علاج اوكړئ.

## په ورو بَولو كښې د وِينې راتلو روحانى علاج

(31) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ؕ يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ ۚ وَ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۴﴾ (پ۲۸، الحشر: ۲٤) كله كله د مَثاني يا د گُردې د كانړې په وجه يا د گرم تاثير لرلو والا څيزونو د ډير استعمال په وجه په ورو بَولو كښې وِينه راځي. او د سُور مرچكې زيات اِستعمال په ورو بَولو كښې سوې [يعني سوزيدل] پيدا كوي. مريض ته پكار دي چه د گرم تاثير والا څيزونو او د سُور مرچكې نه پرهيز كوي. هر دوه كينټې پس دا بره وركړې شوې آيتِ مُباركه د اَوَّل آخِر درې درې ځله درود شريف سره اولولئ او اوبه پرې دَم كړئ او اوئې څښېږئ. (د علاج موده: د شِفا حاصليدو پورې)

## د نوم [پريوتو] روحاني علاج

(32) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ سَلٰمٌ ۟ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ﴿۵۸﴾ (پ۲۳، يٰسٓ: ۵۷) په اوداسه كښې په كاغذ اوليكئ (يا ئې په بل اوليكئ) او پلاسټك كوټنګ ئې كړئ او په كپړه وغيره كښې ئې اوكنډئ او په نوم ئې داسې اوتړئ چه د نامه نه لاندې نه ځي، اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ شِفا به حاصله شي.

## د احتلام دوه روحاني علاجونه

(33) سُوْرَۂ نُوح د اوده كيدو په وخت يو ځل اولولئ او ځان پرې دَم كړئ اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ اِحتِلام به نه كيږي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

(34) د اوده کیدو په وخت د زړه د پاسه د شهادت په ګوته د "يا عُمر" ليکلو عادت جوړ کړئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د شيطان د شر نه به **محفوظ** شئ او د اِحتِلام نه به بچ شئ.

## د سترګو د مرضونو 3 روحاني علاجونه

(35) **يَاشَكُوْرُ** که په سترګو کښې مو نور کم وي [يعني نظر مو کمزورې شوي وي] نو 41 ځله ئې لولئ او اوبه پرې دَمومئ او په هغه اوبو سترګې لمدوئ. (د علاج موده: د شِفا حاصليدو پورې)

(36) که نظر مو کمزورې شي يا ختم شي نو "يَا رَحْمٰنُ يَا رَحِيْمُ يَا اَللّٰهُ يَا سَلَامُ" 41 ځله (اَوَّل آخِر يو يو ځل درود شريف) لولئ، په دواړو لاسونو کښې اوبه را اخلئ او پرې دَمومئ ئې او په مخ ئې اچوئ او په سترګو ئې مږئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ فائده به کيږي. (د علاج موده: مُسلسل ووه ورځې)

مَدَني ګل: په مخ باندې د اچولو په وخت کښې څه پاکه کپړه لاندې غوړوئ چه د دَم شوو اوبو بې ادبي اونه شي.

(37) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ د هر مانځه نه پس درې ځله لولئ او ګوتې پرې دَمومئ او په **سترګو** ئې راښکاږئ. دا عمل تول عمر جاري ساتئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د سترګو د بينائي [يعني د نظر] کمزوري به لرې شي او د تورې او سپينې موتيا [يعني په سترګه کښې د ګُل کيدو] نه به هم حفاظت کيږي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شریف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را لیږي. (ابن عدي)

## د غوږ د درد روحاني علاج

(38) یَا سَمِیْعُ 21 ځله (اَوَّل آخِر درې ځله درود شریف) اولولئ او د مریض په دواړو غوږونو کښې ئې پوك کړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د **غوږ د درد** نه به خلاصي نصیب شي. (د علاج موده: د شِفا حاصلیدو پورې)

## د نَزلې زُکام روحاني علاج

(39) هر ځل د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم سره سُوْرَۃُ الْفَاتِحه درې ځله (اَوَّل آخِر درې درې ځله درود شریف) اولولئ او د درې ورځو پورې پرې هره ورځ مریض دَم کړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د نَزلې زُکام نه به خلاصي حاصِل شي.

## (40) د زړه درزیدو د رفتار د زیاتیدو روحاني علاج

د سُوْرَۂ یٰس دا آیت: سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِیْمٍ ﴿۵۸﴾ 101 ځله (اَوَّل آخِر درې درې ځله درود شریف) لولئ (یا ئې په بل لولئ) او د خوړلو یا څښلو څیز پرې دَموئ او خورئ ئې یا ئې څښئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ شِفا به نصیب شي. (د علاج موده: د شِفا حاصلیدو پورې)

## (41) د زړه د سُورې روحاني علاج

لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 75 ځله لولئ او په زړه کښې ئې چه سُورې وې د هغه ماشوم، او د یَرې، او د زړه او د سینې د ټولو مریضانو سینه پرې دَموئ د الله عَزَّوَجَلَّ په فضل فائده مند دي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شریف اولولستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنْزُالْعُمَّال)

## د نَظرِ بَد 3 روحاني علاجونه

(42) لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ 60 ځله اولوَلئ او دَم ئي کړئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د نَظرِ بَد اَثر به ختم شي.

(43) د هر څیز خوړلو نه مخکښ د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لوستلو عادت لرونکې به اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د نَظرِ بَد نه په حفاظت کښ وي.

## د نظر او د درد روحاني علاج

(44) یَا حَیُّ یَا قَیُّوۡمُ 786 ځله اولیکئ (یا ئي په بل اولیکئ) او پلاستِك کوټِنګ ئي کړئ او په څرمن یا رَیګزین یا رَخت [یعني کپړه] کښ ئي اوګنډئ او په غاړه ئي کړئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د نظرِ بَد اَثر به ختم شي. د چا چه په لاسو ښپو درد وي د هغه د پاره هم دا تعویذ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ فائده مند دي.

## د نظر او د هر قِسمه د شر نه د ماشومانو د حِفاظت د پاره

(45) په اوداسه کښ هر ځل د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم سره سره درې درې ځله سُوۡرَةُ الۡفَاتِحَه، سُوۡرَةُ الۡاِخۡلَاص، سُوۡرَةُ الۡفَلَق، سُوۡرَةُ النَّاس (اَوَّل آخِر درې ځله درود شریف اولولئ اوماشومان پرې دَم کړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ماشومان به د نظر لګیدو وغیره نه په حِفاظت کښ شي. (دا عمل هره ورځ سحر او ماښام یعني په ورځ کښ دوه ځله کول دي)

## د مِرګي درې روحاني علاجونه

(46) لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ 66 ځله هره ورځ لولئ او د مِرګي مریض پرې دَموئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ فائده به کیږي. د دې نه علاوه د تبې، نَزلې، زُکام، ټوخې، د

هر قِسمه درد او د سترګو د بيمارۍ د پاره هم دا روحاني علاج فائده مند دې. (د علاج موده: د شِفا حاصليدو پورې)

(47) يَا اَللّٰهُ يَا رَحْمٰنُ 40 ځله په يو ساه کښې اولولئ په چا چه د مِرګي دوره راغلې وي د هغه په غوږ کښې ئې دَم کړئ، اِنْ شَآءَ اللهعَزَّوَجَلَّ فَوراً به په هوش کښې راشي.

(48) د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ سره سُوۡرَةُ الشَّمۡس اولوَلئ او د مِرګي والا په غوږ کښې ئې پوك کړئ، ډير فائده مند دې.

## د سر د وِيښتو غورزيدو روحاني علاج

(49) په اوداسه کښې هر ځل د بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ سره سُوۡرَةُ اللَّيۡل 41 ځله اولولئ د شړشمو يا د کوپرې د تيلو بوتل پرې دَم کړئ، هره ورځ د اوده کيدو په وخت په هغه تيلو سر مالش کوئ. يو څو ورځې مالش کولو سره به اِنْ شَآءَ اللهعَزَّوَجَلَّ د سر ويښته غورزيدل بند شي. که د ګيرې ويښته اوځي نو د هغې د پاره هم دا عمل فائده مند دې (د ضرورت مطابق په هغه بوتل کښې نور تيل اچوئ)

## د سر د ګنجي کيدو عمل

د زيتون په تيلو کښې يوه قاشوغه شهد [ګبين] او ميده شوې دار چيني نيمه قاشوغه ګډ کړئ او په ګنجې ځائ ئې اولګوئ. څه موده مُسلسل استعمالوَلو سره به اِنْ شَآءَ اللهعَزَّوَجَلَّ نوي ويښته راختل شروع شي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ گناهونو دپاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِير)

## د پړسوب روحاني علاج

(50) كه د بدن په څه ځاىٔ كښې پړسوب وي نو لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 67 ځله اوليكئ (يا ئې په بل اوليكئ) او د ځان سره ئې كيږدئ يا ترې تعويذ جوړ كړئ او په غاړه ئې كړئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ **پړسوب** به ختم شي.

## د مُوذى [يعني د خطرناكو] مرضونو نه د حفاظت روحاني نُسخه

(51) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 76 ځله په كاغذ اوليكلې شي او [دا څښت] په آبِ زَم زَم **شريف** كښې اووينځلې شي نو د دې څښلو والا به اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د **مُوذي مرضونو** نه په حفاظت كښې اوسي.

## د ملا د درد روحاني علاج

(52) د **سحر** د سُنّتو او فرضو په مينځ كښې هرځل د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ سره 41 ځله سُوْرَةُ الْفَاتِحَه اولولئ. (د علاج موده: د شِفا حاصليدو پورې) د يو صاحِب وَينا ده: "اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما دا روحاني علاج شروع كړو نو زما د ملا **درد** ختم شو."

## د نيم او پوره سر د درد پينځه روحاني علاجونه

(53) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اولولئ او سر پرې دَم كړئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ درد به ختم شي. او چه په كاغذ ئې اوليكئ او تعويذ ترې جوړ كړئ او په سر ئې اوتړئ نو هم اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ فائده به حاصله شي.

(54) يَا سَلَامُ 11 ځله اولولئ او دَم ئې كړئ، 3 يا 7 يا 11 ځله ئې [هره پيره يوولس ځله] هُم داسي اولولئ او دَم ئې كړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د 11 ځله

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو دَپاره پاکي ده. (اَبُو يَعلٰی)

شمير پوره کيدو نه به مخکښ د نيم سر درد ښه شي، دا عمل د پوره سر د درد د پاره هم اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ فائده مند دې.

(55) لَآاِلٰهَ اِلَّا الله 65 ځله د مازديګر د مانځه نه پس اولولئ او سر پرې دَم کړئ د الله عَزَّوَجَلَّ په کَرَم سره به د نيم سر درد او د ټول سر درد ختم شي.

(56) په ژبه لړه مالګه کيږدئ او 12 منټه پس يو ګلاس اوبه اوڅښئ په سر چه هر څنګه درد وي اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ ښه به شي. (د هائي بلډ پريشر مريض دِ دا علاج نه کوي ځکه چه هغه ته د مالګې استِعمال نُقصان ورکوي)

(57) بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط بِسْمِ اللهِ رَبِّ الْاَرْضِ وَالسَّمَآءِ ط بِسْمِ اللهِ الَّذِيْ بِيَدِهٖ شِفَآءٌ ط بِسْمِ اللهِ الَّذِيْ لَايَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ط د مريض په سر لاس کيږدئ او درې يا ووه ځله دا دُعا اولولئ او سر پرې ورله دَم کړئ. اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ شِفا به حاصله شي.

## د سر د درد، د سر ګرځيدو او د دِماغي کمزورئ روحاني علاج

(58) اُسْكُنْ سَكَّنْتُكَ بِالَّذِيْ لَهٗ مَا فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ط د چا په سر چه درد وي يا پرې سر ګرځي [يعني چکّر پرې راځي] د هغه په سر د درد په ځائ لاس کيږدئ او دا کِلمات ووه ځله اولولئ او د هغه په سر ئې پوک کړئ. اسلامي خور دِ ښځله د خپل سر د درد ځائ اونيسي او د هغې مَحرَم يا خاوَند دِ ئې اولولي او د هغې په سر دِ ئې پوک کړي، د مريض نه تپوس اوکړئ که درد اوس هم وي نو بيا هم دا عمل اوکړئ، يو څو ځله دا عمل کولو سره به اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ د سر درد ختم شي او دِماغي کمزوري به هم لرې شي خو د دِماغي کمزورئ د پاره دا ضروري ده چه دا

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

عمل هره ورځ په يو وخت (مَثَلاً هره ورځ دولس بجې) ووه ورځو پورې مُسلسل اوکړې شي.

## په دِيني اِمتِحان کښ د کامیابئ د پاره

(59) د دِيني مَدرَسې طالِبِ عِلم دِ په اِمتِحان کښ د کامیابئ د پاره د پينځه وخته مونځونو نه پس په اوداسه کښ هر ځل د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم سره سُوۡرَۃُ الۡاِخۡلَاص 16 ځله لوَلي او بيا دِ د الله تَعالیٰ نه د کامیابئ دُعا غواړي، اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه ته به کامیابي حاصله شي. دا عمل په خپل وطن کښ يا په بهر مُلك کښ د جائزې نوکرئ د حاصلولو د پاره په انټروِيو کښ د کامیابئ د پاره هم اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ فائِده مند دې.

## د آفتونو، بیمارو او بې روزګارئ دوه روحاني علاجونه

(60) يَا سَلَامُ په پاخيدو، کښيناستو، تلو، راتلو کښ دا په اوداسه کښ لولئ، اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د مرضونو او آفتونو نه به خلاصې اوموموئ او په رِزق کښ به مو بَرَکت پيدا شي.

(61) دائمي مريض [د هميشه مريض] دِ هر وقت يَا مُعِيۡدُ لوَلي، الله رَبُّ الۡعِزَّت عَزَّوَجَلَّ به صِحَّت ورکړي.

## خاوَند نيك او مونځ ګزاره جوړولو د پاره

(62) خاوند که په بَدو عادتونو کښ اخته وي او په کور کښ هر وخت جګړې وي نو زنانه دِ هر ځل د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم سره يَوولس ځله سُوۡرَۃُ الۡفَاتِحَه اولولي او اوبه دِ پرې دَم کړي بيا دِ ئې په خپل خاوَند اوڅښي،

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاك او نه لوستو هغه د جنّت لاره پريښوده. (طَبَرانِي)

اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ خاوَند به ئې د نيکۍ په لار روان شي. (خاوَند بلکه هيڅ څوك چه د دې عمل نه خبر نه شي ګني د بدګُمانۍ په وجه نقصان کيدې شي) کله کله چه موقع مومئ دا عمل کوئ، دَم شوې اوبه په کولر کښې موجودو اوبو کښې هم اچولې شئ، که د خاوَند نه علاوه د کور نور کسان هم د هغې نه اوبه څښنې نو هيڅ باك نشته. د ضرورت مطابق نورې اوبه په کولر کښې اچوئ.

## د کينسر څلور روحاني علاجونه

(63) اَوّل آخِر يَوولس ځله **درودِ اِبراهيم** او په مينځ کښې "سُوْرَۃُ مَرْیَمْ" اولولئ (يا دِ ئې بل اولولې) اوبه پرې دَم کړئ، د ضرورت مطابِق پکښې نورې اوبه هم اچوئ، مريض دِ تَوله ورځ هم هغه اوبه څښنې، دا عمل څلويښت ورځې بغير د ناغې نه جاري اوساتئ ، شِفا به حاصله شي.

(64) دا آيتِ کريمه: اَلَا یَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ ؕ وَ هُوَ اللَّطِیْفُ الْخَبِیْرُ۠ (پ۲۹، المُلك: ۱٤) 2022 ځله (اَوّل آخِر 11 ځله درود شريف) اولولئ او د **کينسر** مريض پرې دَم کړئ اوبه او دوائي هم پرې دَم کړئ او په مريض ئې اوڅښنئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ډيره فائده به اوشي. (د علاج موده: د شِفا حاصليدو پورې)

(65) ووه ورځې هره ورځ په اوداسه کښې **یَا رَقِیْبُ** 100 ځله (اَوّل آخِر 11 ځله درود شريف) اولولئ او د **کينسر** مريض پرې دَموئ، که زخم وي نو هغه هم پرې دَموئ، که د کينسر زخم په بدن کښې دننه وي يا د پردې [يعني د شرمګاه د حصې] په ځائ وي نو په جامو د پاسه زخم دَموئ. که د بدن په بهر حِصّه زخم وي نو د شړشمو تيل هم دَم کړئ او هغه تيل دِ مريض په زخم لګوي، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ زخم به صحيح شي او **کينسر** به لرې شي.

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

(66) که د هر قِسمه **کينسر** وي، يو کلو د زيتون [يعني د ښونانو] په تيلو کښې 100 ګرامه کُورکمَن ښه پاخه کړئ او چنړ ئې کړئ، مريض دِ د هر طعام نه پس شَل شَل څاڅکي خښبي د پاسه دِ پرې ترمې اوبه خښبي اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ فائده به حاصله شي.

## هره ورځ پِستې خورئ او ځان د کينسر نه بچ کوئ

د يو نوي تحقيق مطابِق هره ورځ په مُناسِب مقدار کښې **پِستې** خوړلو سره د سَګِي [يعني د پړپوس] او نور د ډير قِسم **کينسر** خطره کميږي. په کينسر باندې کار کوونکو د يو "امريکي ايسوسي ايشن" په نګرانۍ کښې د شوي تحقيق مطابِق په **پِسته** کښې د وِټامَن E يو خاص قِسم وي چه د هغې په ذريعه د سَګِي سره د نور قِسمه کينسرو خلاف مضبوط مُدافَعَتي [يعني د بچ کيدو] نِظام حاصليدې شي.

## د حافِظه قَوي کولو د پاره څلور وظيفې

(67) **يَاقَوِيُّ** 11 ځله، د پينځَه وخته مونځونو نه پس په سر ښې لاس کيږدئ او اولوَلَئ. (جَنّتی زيور ص۶۰۵)

(68) د شپې د اوده کيدو په وخت "**يَاذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ**" درې ځله اولولئ او درې بادام پرې دَم کړئ، يو بادام په هم هغه وخت [اوخورئ]، يو سحر په نهره او يو د غرمې اوخورئ. مور و پلار ئې د خپلو بچو د پاره هم دمولې شي، په بچو دِ ئې اوخوري. (موده: 21 ورځې)

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې 50 ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووم). (اِبنِ بشكوال)

(69) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ 564 ځله اولولئ د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه په حِفظ كښې د آسانئ دُعا اوغواړئ، كوشش جاري ساتئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ قرآنِ كَريم به درته حِفظ شي.

(70) يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ يو ځل په كاغذ اوليكئ او تعويذ ترې جوړ كړئ په مټ ئې اوتړئ يا ئې په غاړه كړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د نِسيان (يعني د هيريدو) د بيمارئ نه به خلاصې اومومئ.

(71) يَا عَلِيْمُ ووه ځله او هر ځل د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ سره سُوْرَةُ اَلَمْ نَشْرَحْ 21 ځله اولولئ، اوبه پرې دَم كړئ، د كوم ماشوم يا غټ كس حافِظه كه كمزورې وي په هغه ئې اوڅښئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ **حافِظه** به ئې مضبوطه شي.

## د خاوَند او د ښځې په مينځ كښې مَحَبَّت

(72) كه د خاوَند سره ښځه كم مَحَبَّت كوې نو خاوَند دِ هره ورځ د مازديگر د مانځه نه پس په اوداسه كښې د مِصرې [يعني نانباتو] يوه ټكره په خُله كښې كيږدې او يَا وَدُوْدُ دِ 101 ځله اولولې (اَوّل آخِر درې درې ځله درود شريف) او خپله بي بي دِ په تَصوُّر كښې راولې او د هغې سينه دِ پرې دَم كړې. كه خاوَند كم مَحَبَّت كوې نو بي بي دِ هم دغسې دا عمل اوكړې، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ښځه او خاوَند به د يو بل سره مَحَبَّت شروع كړې. (دا عمل صرف د ښځې او خاوَند د مَحَبَّت د پاره دې او په پته دِ ئې كوې، نه دِ ئې ښځه او خاوَند يو بل ته وائې او نه دِ ئې بل چا ته وائې، ځكه د غَلَط فَهمئ په وجه نقصان كيدې شي)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دَ ګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

## د ماشوم د ذِهني کمزورئ علاج

(73) بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم 786 ځله (اَوَّل آخِر درې ځله درود شريف) اولولئ (يا ئې په بل اولولئ) او يو بوتل اوبه پرې دَم کړئ او هغه اوبه هره ورځ سحر په نهره او د اوده کيدو په وخت کښې په ماشوم څښبئ، د ضرورت مطابِق پکښې نورې اوبه اچوئ. اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ **ذِهن** به ئې **روښانه** شي.

(د علاج موده: د شِفا حاصليدو پورې)

## د اِپنډِکس روحاني علاج

(74) آيَةُ الْكُرۡسِى 11 ځله او يَا عَظِيۡمُ 7 ځله (اَوَّل آخِر درې ځله درود شريف اولولئ د دوه ګوټو په سر کښې مالګه راواخلئ او پرې دَم ئې کړئ، [هغه مالګه] په اوبو کښې واچوئ او اوئې څښبئ. دا عمل په ورځ کښې درې ځله کوئ. اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ اِپنډِکس به ختم شي.

## د مِرګي د دورې روحاني عِلاج

(75) بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم الٓمّٓصٓ طٰسٓمّٓ كٓهٰيٰعٓصٓ يٰسٓ وَالۡقُرۡاٰنِ الۡحَكِيۡمِ حٰمٓ عٓسٓقٓ نٓ وَالۡقَلَمِ وَمَا يَسۡطُرُوۡنَ په اوداسه کښې درې ځله اولولئ او مريض پرې دَم کړئ. اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د **مِرګي** دوره به خَتمه شي.

## د نَظر روحاني علاج

(76) يو ځل سُوۡرَةُ الۡكَوۡثَر اولَولئ او د ماشوم ښې مخ پرې دَم کړئ. په دويم ځل سُوۡرَةُ الۡكَوۡثَر اولولئ او ګڅ مخ ئې دَم کړئ، په دريم ځل ئې اولولئ او

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

تَندې ورله دَم کړئ، اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ نظر به ئې مات شي. (په شروع کښې درې ځله درود شریف یو ځل اَعُوۡذُ او هر ځل د سُوۡرَةُ الۡکَوۡثَر نه مخکښې پوره بِسۡمِ الله وئیل دي)

(77) درې ځله بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم اولولئ او ووه ځله دا دُعا: بِسۡمِ اللّٰهِ، اَللّٰهُمَّ اَذۡهِبۡ حَرَّهَا وَبَرۡدَهَا وَوَصَبَهَا اولولئ څوك چه نظره شوې وي هغه پرې دَم کړئ، اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ نظر به ئې مات شي.

(78) بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ووه ځله، یو ځل آيَةُ الۡکُرۡسِیۡ، درې ځله سُوۡرَةُ الۡفَلَق، درې ځله سُوۡرَةُ النَّاس (د فلق او ناس نه مخکښې هر ځل پوره بِسۡمِ الله وئیل دي) اَوَّل آخِر یو ځل درود شریف اولولئ او درې سره مرچکې پرې دَم کړئ. بیا هغه مرچکې د مریض د سر نه 21 ځله چاپیره کړئ او اوئې سوزَوَئ. اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د نظر اثر به ختم شي.

## د بلډ پریشر دوه کورني علاجونه

(1) څلور عدد د کړهې پانړې [یو قِسم سبزي] په یوه پیالئ اوبو کښې تړوله شپه کیږدئ، سحر په نهره د هغې نه دوه پانړې اوجوئې او اوئې خورئ او د پاسه پرې هغه اوبه هم اوڅښئ. (باقي دوه پانړې په اینګولې [ترکارئ] وغیره کښې استعمال کړئ) اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ صرف په یوه هفته کښې به **بلډ پریشر** نارمَل شي بلکه په یوه ورځ کښې به فرق محسوس شي. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې علاج سره به د بلډ پریشر د مریض مخ روښانه شي.

(2) د ضرورت مطابِق کریلې کټ کړئ او د تُخم سره ئې اوچې کړئ، بیا ئې میده کړئ او پوډر ترې جوړ کړئ، سحر ماښام نیمه نیمه قاشوغه

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل دَ قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

د طعام نه مخکښې خوړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ شوګر، بلډ پريشر، او کوليسټرول [يعني په وِينه کښې غوړوالې] به نارمل [يعني مناسب] شي.
(د علاج موده: د شِفا حاصليدو پورې)

## دا رساله اولولئ او بل ته ئې ورکړئ

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د ميلاد په جلوسونو وغيره کښې د **مَكتَبةُ الْمَدِينه** نه شائع شوې رسالې او د مدني ګلونو پرچې تقسيم کړئ او ثواب اوګټئ، خپلو ګاهکونو ته په تحفه کښې ورکولو د پاره په خپلو دُکانونو کښې هم د رِسالو ايښودلو عادت جوړکړئ، د اخبار خرخونکو يا د ماشومانو په ذريعه په خپل چم ګاونډ کښې کور په کور وقفه په وقفه کله يوه کله بله د سنّتو نه ډکو رِسالو رسَولو په ذريعه د نيکئ دعوت عام کړئ او ډير ثوابونه اوګټئ.

غم مدینہ، بقیع مغفرت اور بے حساب جنّت الفردوس میں آقا کے پڑوس کا طالب
۲۱ رجب المرجب ۱۴۳۶ھ
11-05-2015



# ماخذومراجع

| کتاب | مطبوعه | کتاب | مطبوعه |
|---|---|---|---|
| قرآن مجيد | | الترغيب والترہيب | دار الكتب العلمية بيروت |
| بخاری | دار الكتب العلمية بيروت | المجالسة | دار الكتب العلمية بيروت |
| مسلم | دار ابن حزم بيروت | احياء العلوم | دار صادر بيروت |
| ابو داوٗد | دار احياء التراث العربى بيروت | عيون الحكايات | دار الكتب العلمية بيروت |
| ترمذی | دار الفكر بيروت | منہاج القاصدين | دار التوفيق دمشق |
| ابن ماجہ | دار المعرفة بيروت | ردالمحتار | دار المعرفة بيروت |
| موطا امام مالک | دار المعرفة بيروت | ملفوظات اعلیٰ حضرت | مكتبة المدينہ باب المدينہ كراچی |
| مسند امام احمد | دار الفكر بيروت | بہار شريعت | مكتبة المدينہ باب المدينہ كراچی |
| معجم ا وسط | دار الكتب العلمية بيروت | مرأة المناجيح | ضياء القرآن پبلی كيشنز مركز الاولياء لاہور |
| مسند البزار | مكتبة العلوم و الحكم مدينہ منورہ | جنّتی زيور | مكتبة المدينہ باب المدينہ كراچی |
| شعب الايمان | دار الكتب العلمية بيروت | 152رحمت بھری حكايات | مكتبة المدينہ باب المدينہ كراچی |
| المستدرک | دار المعرفة بيروت | وسائل بخشش(مرمم) | مكتبة المدينہ باب المدينہ كراچی |
| الفردوس بمأثور الخطاب | دار الكتب العلمية بيروت | ★★★★★ | ★★★★★ |

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په مخکښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاك او نه لوستو هغه د جَنّت لاره پریښوده. (طَبَرانِي)

# فهرست



| عنوان | نمبر |
|---|---|
| بیمار عابِد | 1 |
| بیماري ډېر غټ نِعمَت دې | 2 |
| په بیماري کښې د مومِن او مُنافِق فرق | 3 |
| چه زخمي شوه نو مُسکئ شوه (حکایت) | 4 |
| د مُصِیبَت پټولو فضیلت | 5 |
| د جامي د [غاښ] د درد نه اوده نه شوم! (حکایت) | 5 |
| د بیمار د پاره تُحفه | 6 |
| د بیمارئ د فضیلت په باره کښې 5 فرامِینِ مصطفٰی ﷺ | 6 |
| بغیر بیمارئ مرګ | 7 |
| د یوې شپې د تبې ثواب | 7 |
| تبه به ئې د مَحشر د اور نه بچ کړي | 8 |
| تبې ته بَده مه وائې | 8 |
| په سرکار ﷺ به د دوو سړو هُمره تبه راتله | 9 |
| مونږه کله د چا بَد نه دي غوښتي! | 9 |
| مریض او کلمۀ کُفر | 10 |
| د ثواب په شوق کښې ئې تبه اوغوښتله | 10 |
| د الله په لار کښې د سر په درد د صبر کولو فضیلت | 12 |
| د طَلَبۀِ علمِ دین او د مدني قافِلې د مسافرو د پاره زیرې | 12 |
| د سر د درد په شُکرانه کښې 400 رکعته نفل | 12 |
| تبه او د سر درد مُبارَك مرضونه دي | 13 |
| جَنَّتي زنانه (حِکایت) | 13 |
| دوا هُم سُنَّت ده او دُعا هُم [سُنَّت ده] | 14 |
| د مِرګي روحاني علاج | 15 |
| د رَګ اَوُوښتلو فضیلت | 15 |
| د ګیډې په بیمارئ کښې د مړ کیدو فضیلت | 15 |
| د "یاحُسَین" د شپږو حروفو په نِسبَت په شپږ قِسمه بیمارو کښې مړ کیدونکي شهیدان | 16 |
| د مریض د تپوس کولو ثواب | 17 |

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما یو ځل درود شریف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)


| | |
|---|---|
| بیمار ته د دُعا د پاره اووائې | 17 |
| د تپوس کولو د وخت یو سُنَّت | 17 |
| په تپوس کښې ووه ځله د لوستلو دُعا | 18 |
| د ''چل مدینه'' د ووه حروفو په نِسبَت د تپوس 7 مَدَني ګلونه | 18 |
| بیماري او دروغ | 19 |
| مَعمولي بیمارۍ ته د سختي بیمارۍ وئیلو مُتَعَلِّق د دروغو شپږ مثالونه | 19 |
| د تکلیف باوجود د نیکو نه د ډك جوابونو مثالونه | 21 |
| د طبیعت د پوښتنې په جواب کښې د دروغو وئیلو 9 مثالونه | 22 |
| د اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَلٰی کُلِّ حَال وئیلو یو نِیَّت | 23 |
| مریض ته د تَسَلِّی ورکولو، د دروغو 13 مثالونه | 23 |
| د مریض د دروغو وئیلو 13 مثالونه | 25 |
| د بیمارو 78 روحاني علاجونه | 26 |
| دَ تبې څلور روحاني علاجونه | 26 |
| (5) د داسي تبې روحاني علاج چه په دوایانو نه ښه کیږي | 27 |
| (6) د خوب نه راتلو دوه روحاني علاجونه | 27 |
| د ځناورو [او خزندؤ] د چیچلو او د هغوئ نه د حفاظت 3 روحاني علاجونه | 27 |
| د پیریانو د اَثراتو 3 روحاني علاجونه | 28 |
| (14) که په خوب کښې مو څه څیز تنګوي یا..... | 28 |
| د جادو دوه روحاني علاجونه | 29 |
| د فالِج او لَقوې دوه روحاني علاجونه | 30 |
| د هَیپاټائِټِس [تور زیړي] روحاني علاج | 30 |
| د یَرقان [یعني عام زیړي] 4 روحاني علاجونه | 31 |
| د غاښونو د درد 2 روحاني علاجونه | 31 |
| (26) د غاښ د درد یو مفید عمل | 32 |
| (27) د ترِیخې او مثانې د کانړي روحاني علاج | 32 |
| د کچه پیپتې په ذریعه د ګردې او ترِیخې علاج | 32 |
| د ګردې او د وړو بَولو د بیمارۍ 3 روحاني علاجونه | 33 |
| د ګُردې د بیمارۍ د پاره طِبّي نُسخه | 33 |

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کَنزُالعُمَّال)



| | |
|---|---|
| په ورو بَولو کښې د وِينې راتلو روحانی علاج | 34 |
| د نوم [پړيوتو] روحاني علاج | 34 |
| د احتلام دوه روحاني علاجونه | 34 |
| د سترګو د مرضونو 3 روحاني علاجونه | 35 |
| د غوږ د درد روحاني علاج | 36 |
| د نَزلې زُکام روحاني علاج | 36 |
| (40) د زړه درزيدو د رفتار د زياتيدو روحاني علاج | 36 |
| (41) د زړه د سُوري روحاني علاج | 36 |
| د نَظرِ بَد 3 روحاني علاجونه | 37 |
| د نظر او د درد روحاني علاج | 37 |
| د نظر او د هر قِسمه د شر نه د ماشومانو د حِفاظت د پاره | 37 |
| د مِرګي درې روحاني علاجونه | 37 |
| د سر د وِيښتو غورزيدو روحاني علاج | 38 |
| د سر د ګنجې کيدو عمل | 38 |
| د پړسوب روحاني علاج | 39 |
| د ملا د درد روحاني علاج | 39 |
| د نيم او پوره سر د درد پينځه روحاني علاجونه | 39 |
| د سر د درد، د سر ګرځيدو او د دِماغي کمزورئ روحاني علاج | 40 |
| په دِيني اِمتِحان کښې د کاميابئ د پاره | 41 |
| د آفتونو، بيمارو او بې روزګارئ دوه روحاني علاجونه | 41 |
| خاوَند نيك او مونځ ګزاره جوړولو د پاره | 41 |
| د کينسر څلور روحاني علاجونه | 42 |
| هره ورځ پستې خورئ او ځان د کينسر نه بچ کوئ | 43 |
| د حافِظه قَوي کولو د پاره څلور وظيفې | 43 |
| د خاوَند او د ښځې په مينځ کښې مَحَبَّت | 44 |
| د ماشوم د ذِهني کمزورئ علاج | 45 |
| د اپنډِکس روحاني علاج | 45 |
| د مِرګي د دورې روحاني عِلاج | 45 |
| د نَظر روحاني علاج | 45 |
| د بلډ پريشر دوه کورني علاجونه | 46 |

فرمَانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سَنی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## د قرآن د هیرولو عذاب

**یقیناً** د قرآنِ کریم **حِفْظ** کول د ډیر عظیم ثَواب کار دې خو یاد ساتئ! **حِفْظ** کول آسان دي خو ټول عمر دا یاد ساتل ګران دي. حافِظانو هلکانو او جینکو ته پکار دي چه هره ورځ کم نه کم ضرور یوه سیپاره تلاوَت کوي. کوم حافِظان چه د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د راتلو نه لږه موده مخکښې صِرف په تراویح کښې د اوړَولو د پاره منزِل پخوي او د دې نه علاوه **مَعَاذَاللّٰه** عَزَّوَجَلَّ ټول کال د غفلَت په وجه ډیر آیتونه هیروي، هغوئې دِ بیا بیا اولولي او د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ د یَرې نه دِ اولړزیږي. **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: "کوم کس چه قرآن اولولي [یعني حِفظ ئې کړي] بیا ئې هیر کړي نو د قِیامَت په ورځ به د **اللّٰه** تَعَالٰی سره د جُذام [په مرض کښې د اخته کیدو] په حالَت کښې ملاقات کوي." (ابوداؤد حدیث ۱۴۷۴) **صَدرُالشَّرِیعه، بَدرُالطَّرِیقه** حضرت عَلّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: قرآن د لوستلو [یعني یادولو] نه پس هیرول ګناه ده. خوك چه قرآني آیتونه د یادولو نه پس هیر کړي د قِیامَت په ورځ به ړوند راپاځولې شي. (بہارِشریعت ج ۱ ص ۵۵۳) **اعلیٰ حضرت** اِمام احمَد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د هغه نه زیات نادان به څوك وي چه **اللّٰه** پاك هغه له داسې هِمَّت ورکړي او هغه ئې پخپلو لاسو ضائع کړي، که د دې (**حِفْظِ قُرآنِ پاك**) قدر ئې پیژندلې او د کوم ثواب او درجو ورکولو چه په دې وعده شوې ده د هغې نه خبر وې نو دا [**حِفْظ**] به ئې د خپل ځان او زړه نه زیات ګران ګنړلو. نور فرمائي: چه څومره کیدې شي نو د دې د لوستلو او **حِفْظ** کولو او پخپله د یاد ساتلو کوشش دِ کوي چه هغه ثواب د کوم ثواب چه وعده شوې ده اوموي، او د قِیامَت په ورځ د **ړوند** او **جُذامي** پاخیدو نه خلاصې اوموي.

(فتاوٰی رضویه ج ۲۳ ص ۶۴۵، ۶۴۷)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او مونځ ګزاره جوړیدو دَ پاره

هر زیارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ځائ کښې کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډکه هفته واره اجتِماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِیَّتونو سره توله شپه تیروئ ۞ د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د دري ورځو سفر او ۞ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په وړومبي تاریخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ خپل ځان دَ اِصلاح دَ پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح دَ کوشش کولو دَ پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښې سَفَر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ






www.dawateislami.net


فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net